Afghan Resource & Information Centre
ARIC

دعوت

١٠

دمجاهدینو په نزد د روسي پوځیانو موجودیت او "دخلق" او "پرچم" حکومت یو معنی لري او د دواړو ترمنځ هیڅ توپیر
نشته زمونږ. دمجاهدینو عقیده دا ده چه دخلقیانو او پرچمیانو په خلاف جهاد داسې فرض دی لکه څنګه چه د روسانو په خلاف
راباندې فرض ؤ.

(الشیخ جمیل الرحمن)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

وَقَالَ الَّذِيۡنَ اَشۡرَكُوۡا لَوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدۡنَا مِنۡ دُوۡنِهٖ مِنۡ
شَىۡءٍ نَّحۡنُ وَلَاۤ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِنۡ دُوۡنِهٖ مِنۡ شَىۡءٍ‌ ؕ كَذٰلِكَ
فَعَلَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ‌ ۚ فَهَلۡ عَلَى الرُّسُلِ اِلَّا الۡبَلٰغُ الۡمُبِيۡنُ ﴿۳۵﴾
وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِىۡ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوۡلًا اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ وَاجۡتَنِبُوا
الطَّاغُوۡتَ‌ ۚ فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ هَدَى اللّٰهُ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ
الضَّلٰلَةُ‌ ؕ فَسِيۡرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ فَانۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۳۶﴾

النحل - (۳۵) او (۳۶)

ترجمه: مشرکانو وویل: که الله غوښتي وی، بیله هغه نه به مونږ د هیڅ شي پرستش نه کاوه، نه مونږ او نه زمونږ پلرونو، او نه به مو د هغه له فرمان نه پرته کوم شی حرام کانه، هغه کسان چه له دوی نه مخکی وو، هغوی هم همداسی وکړل، آیا پر پیغمبرانو باندی له ښکاره ابلاغ نه لورڅه (ذمه واری) شته؛

او په تحقیق سره په هر امت کښی مونږ (له دغه فرمان سره) یو رسول لیږلی چه دالله پرستش وکړئ او د بتانو له پرستش څخه ځان وساتی، له هغوی څخه داسی څوک وچه الله ورته هدایت وکړ او له هغوی څخه داسی څوک (هم) وچه پر هغه باندی ګمراهی متحققه شوه، نو په ځمکه کښی سفر وکړئ او وګورئ چه د (حق) تکذیب کوونکی له څه سرنوشت سره مبتلا شول.

اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِىْ هِىَ اَحْسَنُ

دعوت

دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة دافكارو خپرونې

PROPERTY OF ACKU

دوهم كال - پرلپسی (۱۰) گنه - د ۱۴۱۰ هـ ق كال د رجب المرجب او شعبان المعظم مياشتی

هغه څه چه پدی گنه كښی لولی

شماره	مضمون	مخ
۱-	قرآنی دعوت او هدايت	۲
۲-	حقانيت مسلك اهلحديث	٤
۳-	د انتفاضه تحريك دوه كاله	۷
٤-	د خلق او پرچم ترمنځ خونړی جگړه	۱۲
۵-	د كشمير پرون او نن	۱۸
٦-	د لستونی مار	۲٤
۷-	د قبلی بدليدل	۲۸
۸-	د سرنگر په ښار كښی مسلمانانو	۳۳
۹-	په تاجكستان كښی مظاهری	۳٤
۱۰-	آذربايجان د روس لپاره	۳٦
۱۱-	د حل يوازنی لار	٤۱
۱۲-	راغلی ليكونه	٤٦

موٴسس:

مولوي جَمِيْلُ الرَّحْمٰن

دامتيازخاوند:

جماعة الدعوة إلى القرآن والسنة

خپرونکی اداره:

فرهنګي کميټه- دنشراتو
لوئ مديريت

مهتمم:

مولوي غلام محمّد "غريب"

پوست بکس:

۱۲۰۳
پېښور پاکستان

بسم الله الرحمن الرحيم

قرآني دعوت او هدایت

په وړاندینی بحث کښې مو وویل چه د فرعون په شان د یو سر سخت دښمن په کور کښې د حضرت موسی علیه السلام لوئېدل او د فرعوني ظلم او استبدادنه د هغه نجات ، د الهی قدرت معجزه وه . که تاسو دغه ټول مهیب او خطرناك شرایط په نظر کښې وساتئ او د دغو شرایطو هره یوه لحظه سترګوت راوړی ، درته به معلومه شي چه د دغې هرې یوې لحظې نه د حضرت موسی علیه السلام نجات د الهی قدرت د معجزی ښکارندوی دی . قرآن عظیم الشان دغه داستان په دې ډول بیانوي :

فالتقطه ال فرعون لیکون لهم عدوا وحزنا ان فرعون وهامن وجنودهما کانوا خاطئین . وقالت امرات فرعون قرت عین لی ولك لاتقتلوه و عسی ان ینفعنا او نتخذه ولدا وهم لایشعرون . واصبح فؤاد ام موسی فارغا ان کادت لتبدی به لولاان ربطنا علی قلبها لتکون من المؤمنین . وقالت لاخته قصیه فبصرت به عن جنب وهم لایشعرون . وحرمنا علیه المراضع من قبل فقالت هل ادلکم علی اهل بیت یکفلونه لکم وهم له ناصحون . فرددنه الی امه کی تقرعینها ولاتحزن ولتعلم ان وعد الله حق ولکن اکثرهم لایعلمون .

(القصص ۸ ـ ۱۳)

یعنې د فرعون سړو هغه (موسی علیه السلام) را پورته کړ ددې له پاره چه نتیجه داسې مقرر شوی وه چه موسی علیه السلام د فرعونیانو له پاره دښمن او د هغوی له پاره دردسر جوړشي او ورته د غم موجب شي . شك نه شته چه فرعون او هامن او دارو دسته ئې ګمراهان ؤ . د فرعون ښځې خپل څښتن ته وویل چه په دې هلك به زما او ستا سترګی

خوړې شي . هغه مه وژنه ، کېدی شي یا خو به مونږ ته څه ګټه ورسوي او یا به ئې په زوئ والي ونیسو . هغوئ له عاقبت نه بی خبره وو او د موسی علیه السلام د مور دزړه د صبر کاسه ډکه شوی وه . که مونږ د هغې زړه نه وای ټینګ کړی ، نونږ دې وه چه دغه راز به ئې افشاء کړی وای . زمونږ اراده دا وه چه هغه په مومنانو کښې وشمېرل شوه . او د موسی علیه السلام خورته ئې وویل :

چه د خپل ورور څار کوه او شاشاته ئې څه . خورئې ورته له ورایه ورایه کتل او فرعونیان ناخبره وه . او مونږ په موسی علیه السلام باندی ددائې شیدې له وړاندی نه حرام کړی وې ، نو د حضرت موسی (علیه السلام) خور وویل : زه به تاسو ته داسی کوروښایم چه ستاسو د پاره دا هلك وپالي او په خیر خواهی سره ئې وروزي . نو مونږ په دې ډول موسی علیه السلام بېرته د خپلې مورغېږې ته ورساوه تر څو سترګې ئې وربانـدی خوږې شي او پریشانه نه شي او دا ورته ثابته شي چه د الله تعالی جل جلاله وعده رښتونی ده خو ډېر خلك وربانـدی نه بوهېږي .

حضرت موسی علیه السلام د فرعون په کور کښې دلوئېدو او پالل کېدونه وروسته دهغه له کوره بی له اجازې ووت . چه وروسته د شاهی خاندان د یو فرد د قتل کېدو واقعه راوړاندی شوه . د قرآن عظیم الشان متن په دې ډول دی :

و دخل المدينة على حين غفلة من اهلها فوجد فيها رجلين يقتتلن هذا من شيعته وهذا من عدوه فاستغاثه الذى من شيعته على الذى من عدوه فوكزه موسى فقضى عليه قال هذا من عمل شيطن انه عدو مضل مبين .

(القصص ــ ۱۵)

ترجمه : او هغه موسی علیه السلام په داسې وخت کښې ښار ته داخل شو چه خلك بی خبره وو ، وئې لېدل چه دوه تنه په جنګ دي ، یو تن د حضرت موسی علیه السلام قومي دی او بل د هغه له دښمنانو څخه دی . د موسی علیه السلام قومي د دښمنې ډلې د سړي په مقابله کښې د حضرت موسی علیه السلام نه مرسته وغوښتنه . نو حضرت موسی علیه السلام هغه سړی په سوك و واهه او کارئې ورله ختم کړ (وئې واژه) . حضرت موسی علیه السلام وویل : دغه کار د شیطان وسوسه ده . بی شکه هغه د انسان دښمن او ګمراه کوونکی دی .

دا یوه ښکاره معجزه وه . د الهی قدرت ښکاره څرګندونه وه د الله تعالی دروښانه نښانونه یوه نښانه وه چه څنګه د الله تعالی لورې ته د دعوت او تبلیغ او بیا دبنی اسرائیلو

پاتی په ( )

حقانیت مسلک اهلحدیث (قسط ۱۴)

چند سوال و جواب در مورد مسلک اهلحدیث

سوال: تعریف مسلك اهلحديث به حيث يك مكتب و مسلك فقهی چگونه است ؟

جواب: مسلك اهلحديث عبارت از يك دعوت و ندای است كه در اصول و فروع يعنی در عقايد و اعمال به ظاهر كتاب و سنت و روش آئمۀ سلف يعنی صحابۀ كرام مبتنی بوده كه در آن (مسلك اهلحديث) بعد از آنحضرت صلی الله عليه وسلم به اسم و رسم كدام شخص و فرد ديگری اساس و شالوده دعوت طرح و پيريزی نشده است .

سوال: اصول فقه مسلك اهلحديث كدام كتاب ها است ، كتاب را معه مصنف آن نام ببريد .

جواب: در اصول فقه ، (۱) روضة المناظر ابن قدامه (۲) الرسالة الامام الشافعی (۳) ارشاد الفحول للشوكانی (۴) حصول المامول ، للصديق الحسن (٥) احكام الاحكام ، ابن حزم (٦) احكام فی اصول الاحكام ـ نصر بن عبدالسلام (۷) القواعد ـ لابن رجب (۸) القواعد والفوائد الاصولية ـ لعلی بن عباس البعلی (۹) القواعد النورانية ، لابن تيميه (۱۰) موافقات ، للشاطبی (۱۱) التوضيح والتلويح ، (۱۲) كشف الاسرار شرح اصول بزدوی ، وغير ذالك اهلحديث درين باب از كتب متقدمين احناف كه درين فن (اصول فقه) مانند مسلم الثبوت وامثال آن ، نوشته شده است نيز استفاده ميكند اما تصانيف متاخرين ايشان (احناف) در فن مذكور (اصول فقه) مانند ملا جيون وشاشی و غير هما بنابر پايه تحقيق علمی نيست ، كاتب چلپی حنفی در كشف الظنون ميگويد ـ از همه اولتر در اصول فقه

معتزله و اهلحدیث خامه فرسائی نمودند و کتاب ها نوشتند لیکن به کتب و نوشته های ایشان نباید اعتماد کرد ، به علت اینکه معتزله در عقاید و اهلحدیث در فروع با مامخالف اند .

حقیقت اینست که اختلاف در اصول فقه نوعیت خاص و دقیقی را دارا است که فقط ماهر فن از اشتباه و غلطی در آن محفوظ باقی خواهد ماند و بس .

طوریکه ثابت است امام ابوحنیفه (رح) و تلامیذه امام ابو یوسف تقریباً بطور کلی و عام شکار جال اعتزال گردیدند . قاضی عیسی بن ابان ، بشر مریسی ، سرخسی ، کوخی کم و بیش از معتزله متاثر اند ، کسانیکه از اعتزال متاثر نیستند ، روش و اسلوب ایشان در اصول فقه چندان غلط نیست ، این موضوع بحث و تمحیص بیشتری را ایجاب میکند ، ولی درین مقام به مقدار فوق اکتفاء باید نمود .

سوال: مجتهدین مسلك اهلحدیث یعنی آنانیکه تصانیف فقهی ایشان درمیان اهلحدیث موجود باشد کدام ها اند ؟

جواب: در مجتهدین تقسیمات و حدبندی خاصی موجود نیست که هر گروه و مکتب فکری هر مجتهد را مطابق خواسته و میل خود منسوب به مذهب و مسلك خود نماید . مجتهدین مذاهب اربعه آئمه مجتهدین اهلحدیث نیز هستند ، آئمۀ حدیث بخاری ، مسلم ، ابوداود ، ترمذی ، ابن خزیمه ، ابن جریر طبری ، ابو عبدالرحمن اوزاعی ، ابو یوسف ، محمد این همه مجتهدین اهلحدیث هستند ، البته حق بطور کلی در هیچ یك از افراد نام برده منحصر نیست و نه هیچ فرد از ایشان را مقام نبوت میسر شده است و نه مقام عصمت بایشان حاصل است .

باوجود تبحر و غزارت علمی امکان غلطی در ایشان موجود بود نه تنها امکان بلکه بوقوع نیز پیوسته است ، به همین علت اجتهادات هیچ فرد از امت نه واجب القبول شده می تواند و نه واجب الاتباع .

سوال: مجتهدین مسلك اهلحدیث به چند طبقه تقسیم می شوند و برای هر قسم چه اوصاف و ممیزات لازم و ضروری است ؟

جواب: تقسیم مجتهدین نظر به اصل «فوق کل ذی علم علیهم» کدام اساس ومتکای شرعی وعلمی ندارد ، جز الفاظ و اصطلاحات موضوعۀ چیزی دیگری بیش نیست ، این همه اغلال و سلاسل بخاطر حفاظت و نگهبانی تقلید ساخته شده است ، تااینکه اختلافات محققانه ایشان (مجتهدین) را ترک تقلید تلقی نکنند ، در غیر آن فی الواقع همه اساتیذه و

تلامیذه باساس دلائل و براهین از یکدیگر خلاف اختلاف میکردند و هر واحد از تقلید دیگری بی نیاز بود .

سوال: مسلك اهلحدیث برای مفتی چه شروطی را عاید می نماید ، آیا از نقطه نظر این مسلك برای مفتی شرط مجتهد بودن ضروری است ؟

جواب: برای مفتی لازم است که حد اقل بایات و آحادیث احکام عالم باشد ، در مذاهب و آراء علماء عبور داشته باشد ، به عربیت آشنا بوده باشد ، در اصول فقه و اصول حدیث تاحدی معلومات داشته باشد معه اوصاف متذکره تقوی و پرهیزگاری از جمله شروط لازمی يك مفتی است ، البته برای مفتی اجتهاد ضروری نیست ، یعنی اینکه مفتی باید مجتهد باشد ، این قید بی جاو غیر معقول است .

سوال: آیا فقه مسلك اهلحدیث در شکل مدون و مرتب موجود است در صورت جواب مثبت ، باید گفت که آن (فقه) را کدام آشخاص و درچه وقت ترتیب و تدوین نمودند ، اگر در فقه اهلحدیث کدام کتاب جامع بوده باشد لطفاً نام آنرا معه اسم مصنف تحریر نمائید .

جواب: فقه مروجه مذاهب اربعه «که مصادم باقرآن وحدیث نباشد» فقه اهلحدیث نیز است ، ما بلا تخصیص نظر به تقاضائی وقت و زمان و مطابق فهم خود در روشنائی و رهنمائی قرآن وحدیث بآن عمل میکنیم و از آن مسایل انتخاب میکنیم ، اصل مرض و ریشه و اساس مصیبت ها در طول تاریخ تعیین يك مکتب خاص فقهی بوده است که در نتیجه آن بندها و حصار های تقلید مضبوط و مستحکم گردید ، و دروازه های فکر و نظر ، فهم و شعور مقفل شد .

زاد المعاد ، نیل الاوطار ، فتح الربانی ، دلیل الطالب الی ارحج المطالب ، ازین قبیل کتاب های زیاد است که برنهج فقهی نوشته شده است ، لیکن به علت عدم مقلد بودن مصنفین شان حایز مقام فقهائی مروجه نشدند ، و نباید هم شوند ، بایست که علماء مطابق علم و فهم خود تحقیق نمایند و عوام بلا تخصیص بطرف علماء رجوع نمایند طوریکه روش علماء وعوام در خیر القرون بدین نهج بود .

شاه ولی الله محدث دهلوی در حجة الله بالغه میفرماید :

بعد از گذشت دو قرن سلسله تخریج شروع شده بود لیکن در قرن چهارم مردم نه مقلد مذهب مخصوصی بودند و نه از فقه و تفقه کدام مذهب معین صحبت به عمل می آمد ، در آنوقت علماء وعوام هر دو وجود داشت روش

عوام در امر دین شان وعمل بآن - باینطور بود که مسایل اتفاقی را مانند وضوء نماز، زکاة از اکابر وعلماء شهر خود دریافت می نمودند و بدین امور فقط از آنحضرت صلی الله علیه وسلم اتباع می نمودند. هرگاه کدام حادثه فوری و ناگهانی اتفاق می افتید، بخاطر دریافت حکم آن بدون تعیین کدام مذهب به یکی از مفتیان و علما رجوع می نمودند، و مشکل خود را از ناحیه آن حل می نمودند.

روش خواص درین باب باینطور بود که، گروه اهلحدیث در آحادیث و آثار غور و فکر می نمودند، بعد از تحقیق و تتبع برای شان آحادیث و آثار بدست می آمد که بعد از آن دیگر بسوی چیز دیگری خود را نیازمند نمی دیدند.

این است چهره صحیح و راستین اسلام - که در موجودیت آن دیگر ضرورت به تدوین فقه جدید محسوس نمی شود، اما قدغن نمودن مردم و پابند ساختن ایشان به یك مذهب خاص فقهی به هیچ وجه باروح اسلام محمدی سازگار نیست.

حافظ ابن قیم (رح) می فرماید:

فانا نعلم بالضرورة انه لم یکن فی عصر الصحابته جل واحد اتخذ رجلا منهم یقلد فی جمیع اقواله فلم یسقط منها شیئاً واسقط اقوال غیره فلم یاخذ منها شیئاً ونعلم بالضرورة ان هذا لم یکن فی التابعین ولاتا بعی التابعین فلیکذ بنا المقلدون برجل واحد سلك سبیلهم الوخیمة فی القرون الفضیلة علی لسان رسول الله صلی الله علیه وسلم وانما حدثث هذه البدعة فی القرن الرابع المذموم علی لسانه صلی الله علیه وسلم (اعلام الموقعین جلد ۱ ص ۲۲۲)

ترجمه: مابا یقین کامل و صراحت تمام گفته می توانیم که درمیان انسانهای خیر القرون حتی یك فرد واحد هم یافت نمی شد که از تمام اقوال و گفته های شخص معین پیروی می نمود، وفتاوی و گفته های علماء و دانشمندان دیگر را رد می نمود، و مابخوبی میدانیم که در زمانهٔ تابعین و تبع تابعین نیز حالت طوری بود که الان از آن متذکر شدیم اگر حضرات مقلدین درین دعوا مارا کاذب و خاطی می پندارند، لطفاً باپیش نمودن نام شخص واحدی - که پیرو و مقلد اقوال و گفته های یك شخص معین می بود برمدعی خود مهر تصدیق نهند، این «پیروی از مذهب معین» بدعت سلسله پیداوار قرن چهارم است، قرنیکه مذمت آن به زبان درفشان پیامبر گرامی شده است.

د انتفاضه تحریک دوه کاله

هسی خو په فلسطین کی د انتفاضه تحریك د جوړښت لپاره امکانات له ډیرو کلونو را په دی خوا برابر شوی وو او د فلسطین مسلمانان د یاسر عرفات د غیر اسلامی سیاست د پیروی او د الحاد او دهریت لوری ته د فلسطین د جهاد د مسیر د اړولو لپاره د هغه د کوششونو او پالیسیو څخه پوزی ته راغلی وو ، خو د انتفاضه تحریك بنسټ دیوی کوچنۍ واقعی د پیښیدو سره سم کیښودل شو .

د ۱۹۸۷ کال د دسامبر په شپږمه نیټه یو یهودی د نامعلومو کسانو له خوا د غزی په فلسطینی پارك کی ووژل شو او د سیمی امنیتی پولیسو د دغه قتل په تور پنځه سوه تنه فلسطینیان ونیول . خو کله چه د دغی گرفتاری په وجه حاالات کړکیچن شول نو دلږی مودی په تیریدو سره پری ښودل شول او ورسره سم په سیمه کی په گرځیدو راگرځیدو بندیز ولگول شو . دوه ورځی وروسته دغه بندیزونه هم مات شول . په دغه ورځ ماښام چه عرب کارگران له خپلو کارونو واپس راستانه شول ، د لاری په اوږدو کی ئی د سَپرلی بس د یو یهودی ټرك (لاری) په واسطه ووهل شو چه د دغه تصادم په نتیجه کی څلور تنه عرب کارگران ځای په ځای شهیدان او نهه تنه ټپیان شول . د اسلامی تحریك ځوانان د دغی واقعی په خلاف چه قصداً او په لوی لاس سرته رسیدلی وه ، د احتجاج په توگه راپورته شول . د شهیدانو په جنازه کی پنځو زروتنو گډون وکړ او د مظاهرو په ترڅ کی ئی بس دا یو نعره په خوله وه چه :

قسماً بالله الجبار ، لتعودی یا دار

(په جبار خدای مودی سوگندوی ـ ای زمونږ کوره ته به زمونږ لاسته راځی)

او همدغه ؤو د انتفاضه تحریك د پیل لومړنی پوړی . انتفاضه تحریك د اسلامیٓ جذبی او احساس په بناء ولاړ تحریك دی ـ دا تحریك

له جامعی نه راپورته شوی تحریك دی او ځومره چه ورباندی وخت تیریږی ، دغه اسلامی احساس لاپسی د قوت او استحکام پړاونه وهی او اوس داسی وخت رارسیدلی چه بی مبالغی ویلی شو چه د دغه تحریك دراتگ په نتیجه کی د ټول فلسطینی ملت پرگنو ـ پرگنوته د اسلام عشق او یوازی د اسلام د پاره د قربانی او سرښندنی احساس غزونی کړی دی . داسی ډله نشته چه د دغی جذبی نه بی برخی پاتی وی . که د لویدیځی غاړی او غزی په تړانگه کی اوسی او که هغه سیمی چه په ۱۹٦۷ کال د یهودیانو تر استعمار لاندی راغلی دی او که «اسرائیلی فلسطینیان» دی او که هغه سیمی چه په ۱۹٤۸ کال کی د فلسطین دویش په وخت کی د «اسرائیلو» په برخه شوی دی خو اوس ټول د اسلامی جذبی نه په ډکو ککریو گرزی .

د انتفاضه تحریك یو مهم اړخ دادی چه د دغه تحریك قیادت او مشرتابه د داسی مخلصو او اسلامی علمبردارو اشخاصو په لاس دی چه پخپله د جامعی له متن څخه راپورته شوی او پخپله ئی د قربانی په جگړه کی عملا برخه اخستی ده ، لکه احمد یاسین چه د انتفاضه تحریك له ټولونه دستری ډلی «حماس» یا حرکت المقاومة الاسلامیه مشر چه د څو میاشتو راپدیخوا د زندان په سلولونو کی شپی سباکوی . دا سړی د فالج په ناروغی اخته دی او په تری سایکل ناست د ځوانانو د قیادت چاری پرمخ بیائی .

انتفاضه تحریك ته له بهرنی نړی نه ډیره لږه مرسته رسیږی ، عام مسلمانان خو بیاهم د احتجاجونو او مظاهرو په وسیله په هر ځای کی د انتفاضه په طرفداری خپل غږ پورته کوی ، مگر اسلامی حکومتونو له دغه تحریك څخه کوم خاص ملاتړ نه دی کړی ، ملاتړ او مرسته خو لاڅه چه ځینی حکومتونه د انتفاضه تحریك د سرښت له پاره د «امن کنفرانس» د تشکیل په لټه کی دی .

په تیرو دوو کالوکی د انتفاضه تحریك مهم فعالیتونه څه په دی ډول دی : دغه تحریك د فلسطینی ملت په زړه کی د جهاد او شهادت احساس راژوندی کړ . دا هغه ملت ؤ چه له دی نه وړاندی د غیر اسلامی نظریاتو په وجه ئی د مبارزی په ډگر کی د مایوسی او حسرت تبه په بدن کی غځیده ، خونن د دی ملت هر ماشوم هم د یهودی استعمار په خلاف د جهاد په لیکه کی ولاړ دی او تر ټولو مهمه خبره دا ده چه نن سبا د فلسطین د مبارزی رهبری او قیادت د حرفوی سیاستمدارانو په ځای پخپله د خلکو په لاس کی ورغلی دی . د فلسطین ملت چه په بیلا بیلو ډلو تیت او پرك شوی ؤ او د خپل قوت او سطوت ښاخ ئی په

خپل لاس پری کړی ؤ ، نن یو موټی او یوه خوله دی او په هریو کی د کفالت او د بل مبارز ملګری لپاره درحم او عاطفی احساس راژوندی شوی دی او دغه احساس د خپل اوج داسی پوړی ته رسیدلی چه نن د ډوډی یوه نمړی او د دارو یوه ګولی هم په خپل منځ کی ویشی او د یو بل ژوند وربانډی رغوی . او دا هغه احساس دی چه د صلاح الدین ایوبی د عصرنه وروسته د لومړی ځل لپاره د فلسطین په جامعه کی لیدل کیږی .

بله دا چه انتفاضه تحریك ، د فلسطین جامعه د اخلاقی او اجتماعی فساد له تاریکیو را بهر کړه او ټول هغه عناصر ئی چه بی وجدانه او بی ایمانه وو او د دښمن په لاس کی لوبیدل ، له منځه یوړل . ډیر داسی فاسد عناصر د فلسطینی مجاهدینو په لاس د مرګ په سیلاب ورګډ شول چه د جاسوسی په ناوړه عمل بالفعل نیولی شوی وو او یا وربانډی د جاسوسی شك راته .

د اسرائیلو حال څه دی؟

د انتفاضه تحریك د تاسیس نه وروسته په دی دوه ویشتو میاشتو کی د اسرائیلو اقتصاد ته پنځه سوه اوه ملیونه ډالره تاوان رسیدلی دی . فلسطینی ملت هم په دغه موده کی زیانمن شوی ، ځکه پوره دوه کاله کاروبار په ټپه ولاړ ؤ او خلك ټول په جهاد مصروف وو . د فلسطین د تاوان ټوله اندازه دوه سوه لس ملیونه ډالره اټکل شوی ده . دغه راز د اسرائیلو په صادراتو کی دولس فیصده کمښت راغلی دی . سیاحت چه د اسرائیلو د اقتصاد لویه وسیله ده ، د شل فیصده کمی سره مخ دی .

د یهودی قوم زیاته برخه په روانی امراضو اخته ده . د انتفاضه تحریك د رامنځه کیدونه وروسته په یهودی سپاهیانو کی د خودکشی ګراف ورځ په ورځ اوچتیږی یعنی اوس په کال کی لږ ترلږه اوویشت تنه یهودی سپاهیان ځان پخپله وژنی . د اسرائیلو دا خوب چه «د اسرائیلو د هیواد حدود د نیل نه د فرات پوری غزیدلی دی» ګډوډ شوی دی . اوس یهودیان پخپله چیغی وهی چه زمونږ لپاره هماغه پخوانی سیمه پوره ده . هغه سیمه چه مونږ پکی د آرام او راحت ساواخلو .

د یهودی احصائیوی دفترو له قوله ویل شوی دی چه یهودی جامعه داضطرار او تشویش په یوبی پایانه سمندر ورګډه ده ، له اسرائیلو نه د تلونکو کسانو شمیر له هغو کسانو نه څو چنده زیات دی چه دغه هیواد ته داخلیږی . دغه معکوس هجرت یهودی حکومت ته سخته روحی نا آرامی ورپه برخه کړی ده .

د انتفاضه تحریك د سپیڅلی جهاد نتیجه ده چه نن د اسرائیلو د صدر اعظم اسحاق

شمیر لیکه ډ پارټی د «امن» د لارو چارو په لټه پسی سرګردانه ګرځی . دغه ګوند څو ځوځل د لویدیځی غاړی او غزی په ترانګه کی د انتخاباتو تجویز وړاندی کړ . په داسی حال کی چه د انتفاضه تحریك د جوړښت نه وړاندی دغو خلکو د انتخاباتو نوم قدری هم په خوله نه اخست . لویدیځه غاړه اوغزه دواړه اسرائیلو له نظره غورزولی وی ، خو اوس معلومیږی چه یهودی حکومت په دغو سیمو باندی خپلی استعماری منګولی له نوی سره خښوی ، خو دا کوشش به ورته په ډیره ګرانه بیه تمام شی

د ١٩٦٧ کال د قبضی په ترڅ کی چه کوم مالی او ځانی زیان اسرائیلی پوځ ته د لویدیځی غاړی او غزی په سیمو کی ورواوښت ، اوس به دهغه څو چنده نورهم زیات تاوان قبول کړی . بل طرف ته حال دادی چه اسرائیلی پوځ چه شکست ناپذیر بلل کیده ، اوس د کانو ویشتونکو ماشومانو د لوبو نانځکی دی او د شهرت او هیبت طلسم ئی دړی وړی شوی دی .

دانتفاضه تحریك قیادت د دریو لویو تنظیمونو په لاس کی دی ، چه تر ټولو مقتدره او بارسوخه ګوندئی «حماس» (حرکة المقاومة الاسلامیه) دی . بل ئی حرکة جهاد اسلامی دی چه مرکز ئی د نابلس په الفجاج یونیورسټی کی دی . دریم ګوند حزب التحریر دی چه زیات وخت ورروسته د جهاد سنګرته داخل شو

د حماس تنظیم مشر احمد یاسین له زندان نه په یو صادر شوی بیان کی ویلی دی چه «هغه به دامنیت او سلامتی تر شکلی عنوان لاندی هیڅکله هم داسی سازشونه ونه منی چه هدف ئی د فلسطین د حقیقی آزادی کوششونه تخریبول وی . زمونږ آرزو داده چه د انتفاضه تحریك نتیجه او ثمره به د فلسطینیانو د فتحی او پوره آزادی په شکل راڅر ګنده شی .»

دانتفاضه تحریك د جنډی لاندی فلسطینی ملت د خپل هیواد د آزادی لپاره بی ساری قربانی ورکړی چه لنډ تفصیل ئی په دی ډول دی :

تراوسه پوری دانتفاضه تحریك د غړو څخه ١٠٣٠ تنه د شهادت لوړ مقام ته رسیدلی ، له دغی ډلی څخه ٥١ تنه هغه شهیدان دی چه عمر ئی له شپږ کلنی څخه ټیټ دی ، ٣٦٣ تنه هغه شهیدان دی چه عمرئی له شپږ کلنی څخه تر ١٣ کالو پوری ؤ ، د ٣٤٥ تنو شهیدانو عمرونه اکثر د ١٨ او ٢٠ کالو ترمنځ ؤ ، ٢٤ تنه شهیدانو د پنځه ویشت او څلویښت کالو تر منځ عمر درلود ، ٩٢ تنه شهیدان هغه وو چه عمر ئی د شپیتواو څلویښتو کالو ترمنځ ؤ او اوه څلویښتو تنو شهیدانو له شپیتو کالو څخه زیات عمر درلود .

له دغو اعدادو او ارقامو څخه په ډاګه

معلومیږی چه د فلسطینی ملت ټولو طبقاتو په جهاد کی برخه اخستی ، په دغه جهاد کی زیاته برخه د ٦ کلنو څخه تر ١٣ کلنو ماشومانو ده .

یهودیان د دغه تحریك د راپرزولو لپاره ټولی مهلکی وسلی پکار اچوی . کیمیاوی وسلی استعمالوی او په پټو سترګو د مبارزینو او مجاهدینو د وژلو لپاره په عامو کورونو او کلیو بمباری کوی . خو د کاڼو ویشتونکو ځوانانو دغه تحریك لاهماغسی په خپل قوت روان دی او د بریالیتوب او فتحی پړاوونه وهی . د فلسطین د مسلمانانو او د نړۍ د ټولو مسلمانانو د امید سترګی ځکه د دغه تحریك په لور اؤښتی چه په اسلامی احساس راپورته شوی تحریك دی او مجاهدین ئی د ایمان او اسلام په جذبه د یهودی استعمار په خلاف په تش لاس په یهودی سپاهیانو باندی دنیا راتنګه کړی . دوی د الله تعالی په نوم راپورته شوی او فتح او نصرت ئی هم یو حتمی امر دی ، ځکه د الله تعالی وعده حقه ده او الله تعالی د هغه تحریك د بریالیتوب تضمین کړی چه یوازی د اسلام د اعتلا لپاره مبارزه کوی .

د (٣) مخ پاتی

قرآنی دعوت او هدایت

د نجات او د فرعون په شان د ستر طاغوتی طاقت له منګولو څخه د دغه بی وزلي ملت د خلاصون لپاره د الله تعالی له لوري داسې سړی انتخابېږی او داسې شخصیت ته وظیفه ورکول کېږي چه په بنی اسرائیلو کښې د ټولو نه کمزوري او بی وزله دی .

هغه څوك چه د الله تعالی له درباره ئې د حمایت اعلان وشي او د الهی نصرت زېری ورته ورکړی شي ، بیانو د هغه لپاره د قومي او قبیلوي حشمت او جلال ضرورت نه پاتې کیږی .

که حضرت موسی علیه السلام په خپل قوم کښې کمزوری وو او د فرعوني طاقت په وړاندی ئې د دومره مادي قدرت او توان توازن ورسره نه درلود ، خود بري او تفوق له پاره ئې دا الهی اعلان پوره او کافي وو چه ورته ئې وفرمایل :

لاتخافا ـ انني معكما ـ اسمع وارى

یعنی مه وېرېږی زه تاسو سره یم اورم او وینم .

د خلق او پرچم ترمنځ د اقتدار خونړی جگړه

د کابل ښار ، د ۱۳٦۸ هـ ش کال د حوت ارگ هلته چې د دوی کمونست رقیب د روسانو
په پنځلسمه نیټه د وېږ ځله په شان یوځل بیا په واسطه د اقتدار په گدی کیښنول شوی دی ،
د خلقی او پرچمی بدماشانو ، وحشی او باشانو د بمونو او راکټونو باران را پری ایست او
او وطنفروشو جنایت کارانو د اقتدار غوښتنی د ورسره جوخت په ځمکنی پوځ کی د ټانکونو
حرص په لوغړنو لمبو کی پټ شو او د خلق او غرهار پیل شو ، د قرغی او دارالامان قواو دتنی
پرچم د جنایت پیشه خاینانو او سفاکو روسی په طرفداری او د زرهدار څلورمی او د داود د
مزدورانو ترمنځ د کلونو کلونو د دښمنی او یو باغ قواو د نجیب به طرفداری په داسی بی
بل ته د ساز شونو او پټو چالونو د جوړولو او رحمانه جگړه ونښتل چه یوی ډلی هم د عامو
د زور او جبر ، دسیسی او کودتا له لاری د خلکو د کورونو او بازارونو خیال و نه ساته او
اقتدار د قبضه کولو د رسه کشی د څویمی بس د اقتدار غوښتنی په نشه کی ئی په پټو
مرحلی نتیجه بالاخره د کمونیست رژیم د دفاع سترگو د گولو او بمونو باران د جگړی په تو
د وزیر شهنواز تنی د ناکامی کودتا په شکل دیدو سره وراوه ، نه د الوتکو د بمونو هدف
راښکاره شوه . معلوم ؤ او نه د ټانکونو او توپونو د گولو

هو : کابل یو ځل بیا د بمونو او میزایلو نښه . بس آسمانی تندر به ؤ چه د چاپه سرو
په غیږ کی پریوت ، د خلق او پرچم د کمونستو لگید . ولگید .
جنایت کارو ډلو تر منځ د اقتدار جگړه ونښته ، دا د کمونیستو رقیبو ډلو ترمنځ دریمه
د غرمی د دولسو بجو په شاو خوا کی د خلقی مگر د روسانو تر وتلو وروسته تر ټولو خونړی
کودتاچیانو طرفدارو الوتکو د کابل په شاهی نښته وه چه د خلق او پرچم د او باشانو

ترمنځ پیښه شوه او د راډیوئی خبرونو له مخی د کمونستانو په دغه داخلی نښته کی لس زره تنه وژل شوی دی او که د کابل د رژیم د سرد مدار هغه رپوټ موثق وګڼو چه وائی یوسل و پنځه ویشت تنه نظامیان په دغه جګړه کی وژل شوی دی نو بیا دا پاتی تلفات یوازی د عامو بیګناه خلکو دی چه د ملحدو او کمونیستو اقتدار غوښتونکو په جګړه کی له ژوندنه محروم شول چه دا پخپله ددی حقیقت ښکارندوی دی چه وطن پلورونکی او جنایت کار کمونستان د خپل شیطانی اقتدار د ټینګولو په لار کی د خلکو د عامه قتل او د کورونو او بازارونو د تباهی هیڅ پروانه ساتی .

د تنی کودتا په حقیقت کی د کابل د مزدور رژیم د کمزوری او اضمحلال ډیر ښه ښکارندوی دی او دا اطمینان پیدا کیږی چه د خلق او پرچم د کمونستو کافرانو د اقتدار ستوری به ډیر ژر انشاءالله پریوزی . د خلق او پرچم د رقیبو ډلو ترمنځ دغی خونړی جګړی دا وښوده چه د کابل کمونیست رژیم نه یوازی دا چه په افغانی جامعه کی څه نفوذ او محبوبیت نلری بلکه په خپل منځ کی هم په یو بل باندی سخت بی اعتماده او د یو بل وینو ته تږی ناست دی . دغی کودتا که یو طرفته د دواړو کمونستو ډلګیو ترمنځ دښمنی سخته کړه نو بل طرفته په کابل کی د کمونیزم د اقتدار په مانی کی ئی داسی اورولګاوه چه انشاءالله دوی ټول به پکی سکروټی شی . دا په حقیقت کی د هغه فساد او جنایت نتیجه ده چه کمونیستو واکدارانو په تیرو یولسو کالو کی په دی هیواد کی وکړل . دا په حقیقت د هغه عامه قتلونو ، جبر او اختناق لازمی نتیجه وه چه په تیرو یولسو کالو کی تری کمونیستو جنایت کارانو دریغ و نه کړ بلکه د خپل اقتدار د ټینګښت لپاره ئی ورځ تر ورځی نورهم زیات کړل .

د الله تعالی فرمان دی چه :

واذا تولی سعی فی الارض لیفسد فیها ویهلك الحرث والنسل ـ والله لایحب الفساد .

یعنی کله چه دوی په ځمکه کی حکمروائی پیدا کړی . هلته د فساد کوشش کوی او زراعت او نسل تباه کوی . (په داسی حال کی چه) خدای فساد نه خوښوی .

او له دغه آیت نه وروسته ، الله تعالی د دغسی کسانو او ټولګیو عاقبت بیانوی او په ځمکه کی د فساد د مخنیوی لپاره هغوی په یو بل وژنی تر څو د خدای مخلوق د دوی له شره په امان شی .

الله تعالی فرمائی :

ولو لا دفع الله الناس بعضهم ببعض لفسدت الارض ولکن الله ذوفضل علی العالمین .

یعنی که الله تعالی دغه خلك یو په بل

نه وهلی نو ځمکه به تباه شوی وه خو حقیقت دا دی چه الله تعالی په عالمینو باندی د فضل او برتری خاوند دی .

د خلق او پرچم ترمنځ دښمنی د ډیرو کلونو پخوانی سابقه لری چه اصلی عامل ئی هماغه د اقتدار مساله ده چه د تره کی او ببرک ترمنځ پیښه او په دوو برخو باندی د کمونیست باند په ویش سرته ورسیده خو بیا د داود خان د رژیم په خلاف دواړه ډلی په یو سازشی اتحاد کی شامل شوی او د ثور د خونړی کودتا په کامیابیدو سره پرچمیان د دولت په دوهمه درجه مقامونو باندی مقرر شول خو دځو ورځو به تیریدو سره د پرچم لیډر او د کابینی غړی د پوځی کودتا په اتهام سره ځینی ونیول شول او ځینی ئی روسی او نورو کمونیستی هیوادو ته وتښتیدل .

د روسی د نظامی یرغل په ترڅ کی چه کوم وخت ببرک د روسی ټانکونو سره یو ځای راوستل شو او د امین د قتل کیدونه وروسته ئی د روس د غلامی د اوچتی درجی (ریاست دولت) مندری په غوړو کی واچول شوی نو د دغه کار د خلقیانو او په تیره بیا دامین د پلویانو جذبات راوپارول خو د روسی قواو په موجودیت کی ئی څه وسه نه رسیده بلکه د روسانو کوشش دا ؤ چه د دواړو ډلو ترمنځ اتحاد برقرار او په یو حکومت کی ئی شامل

کړی . خو بیا هم یو شمیر هغه خلقیان چه د پرچمیانو سره په دښمنی کی ئی د امین زیاته طرفداری کړی وه ، تراتو کلو پوری په زندان کی ولویدل چه د ببرک د عزل نه وروسته یعنی هغه وخت چه پخپله د پرچم ډله پخپلو کی سره اړم شول ، نجیب د دی لپاره چه په کمونیستانو کی د ځان لپاره طرفداران پیدا کړی ، خلقیان ئی له زندان نه راوویستل او په دولتی اداره کی ئی ورته مقامونه ورکړل . خو دا هغه وخت ؤ چه د هری ډلی مشری باید په نظامی طاقت باندی متکی وای ځکه غیرنظامی سړی نه شو کولی چه د دوو رقیبو ډلو ترمنځ د دغه کشمکش په دوران کی چه هر وزارت د بل وزارت په مقابل کی یو نظامی سنگرؤ ، د خپلی ډلی مشری وکړی . یو طرفته که د خاد شبکه د نجیب پرچمی په لاس کی وه نو بل مقابل کی ئی گلاب زوی خلقی د داخله وزارت نه د خلق د دفاع اړه جوړه کړی وه او د رژیم اطاعت ئی نه کاوه او ټولی چاری ئی په خپل سراخستی وی . بل طرفته د دفاع وزارت ، نجیب قومی رابطی په بنا خلقی شهنواز تنی ته په داسی حال کی وسپاره چه د خاد تر شدیدی نگرانی لاندی به وی . برسیره پردی د لوی درستیز ځو کی پرچمیانو په خپل لاس کی وستاتله ځکه خو دغه وخت د خلق د ډلی مشری د شهنواز تنی په لاس ورغله او د

خلقیانو د امید محور وګرځید .

د نجیب او شهنواز مناسبات په لومړیو وختو کی ډیر خواږه وو او شهنواز د نجیب د پښو ټینګولو لپاره په خپله د جنګ هر میدان ته تللی او د مجاهدینو په خلاف ئی له هیڅ ډول بی رحمی نه کرکه نه ده کړی . خو کوم وخت چه نجیب پوه شو چه په زور او جبر سره په خلکو باندی حکومت نه کیږی او افغان مسلمان ولس د ټانکونو او جهازونو په بی دریغه استعمال سره د کمونیزم او الحاد فاسده مفکوره نشی منلی ، نو د ملی پخلاتوب یا مصالحه ملی په نوم دسیسه ئی راوړاندی کړه او د نظامی عملیاتو په څنګ کی ئی دریا او تذویر ، چال او فریب ، رشوت او تطمیع پالیسی خپله کړه ، تر څو چه د مجاهدینو تر منځ د نفاق تخم و شیندی او خپل اقتدار ټینګ کړی . دغه هدف ته درسید و لپاره نجیب یوازی په دفاعی تعرض اکتفا وکړه او د مجاهدینو په خلاف ئی جنګی الوتکی او سکډ توغندی په کار واچول او ځمکنیو قواو ته ئی د دفاعی حالت دغوره کولو امر وکړ یعنی تر ممکنه حده باید له ځان نه دفاع وکړی او ډیر لږ تعرض وکړی تر څو تلفات ئی کم وی .

خو چه کله مجاهدینو د رژیم هره قوه محاصره کړه او هغو ته ئی د رسد ټولی لاری بندی کړی او هره ورځ په سوونو تنه نظامیان مجاهدینو ته تسلیم شول ، دغه کار د قصی القلب شهنواز تنی په دماغو برابر نشو او نجیب ته ئی وویل ترڅو دفاعی حالت مات او د مجاهدینو په خلاف د سخت جنګ لار خپله کړی .

بل طرفته د نجیب حال دا ؤ چه که دروس میاشتنی ۲۵۰ ملیونی ډالری مرسته وَرونه رسیږی یوه ورځ هم په اقتدار نشی پاتی کیدی . او په نظامی لښکرو هم دومره بی اعتمادی موجوده ده چه که د جګړی ډګر ته واستول شی له وسلی سره به مجاهدینو ته تسلیم شی . په همدغه وجه نجیب د تنی پیشنهاد رد کړ او په دی ډول د خلق او پرچم د دښمنی پخوانی سکروټی یوځل بیا تازه شوی .

تنی څو میاشتی وړاندی هم د دفاع په وزارت کی د بغاوت جنډه پورته کړه او د هغو ۲٤ تنو خلقی افسرانو دراخلاصیدو و مطالبه ئی وکړه چه د نجیب د رژیم له خوا د کودتا په نوم تر تحقیق لاندی وو . خو روسانو د دواړو جلادانو ترمنځ روغه وکړه .

د حوت په پنځلسمه نیټه چه کله ګوډاګی حکومت و غوښتل چه خلقی افسران د پخوانی کودتا په جرم مجازات کړی ، تنی یوازی د خپل خلقی باند له انډیوالانو څخه د دفاع په خاطر په جګړه لاس پوری کړ .

ځنی خلك داسی اشتباه کوی چه ګوندی .

تنې او دهغه غدار ملګرې د افغانستان مجاهدینو په حمایت او په هیواد کې د یو اسلامي نظم د تشکیل په غرض د قیام او کودتا میدان ته راوتلي ، دا کاملایوه ابلهانه نظریه ده چه د یو خونخوار دهرې او قصي القلب کمونیست او داسې یو جنایت کار نه چه لس یولس کاله ئې په افغان مسلمان ولس باندې د ظلم او بربریت بیلې بیلې مانورې اجرا کړې او اوس هم یوازې د مجاهدینو په خلاف د رژیم د جګړې په تاکتیك باندې ناراض دې او غواړې چه ګوډاګې حکومت باید د مجاهدینو په خلاف له دې نه زیات شدت اختیار کړې ، دا توقع ولرو چه دې مسلمان دې او یا به د مجاهدینو حکومت ته غاړه کیږدې .

دا حقیقت نن د لمرپه شان ثابت دې چه مجاهدین د افغانستان د سرنوشت د ټاکلو په لار کې ستر قوت دې او د دوې له مشورې غیر هیڅ فیصله نشي کیدې ، نو که تنیان او سروریان ، وفاداران او مومندیان چه یولس کاله د افغانستان د مؤمن ملت په مقابل کې وجنګیدل او نن یوازې د خپلې شخصي او حزبي ګټو په سر له کمونیست رژیم څخه جدا کیږې او هغو سیمو ته پناه وړې چه الله تعالی ئې د اقتدار او ادارې واګې د خپلې لارې مجاهدینو ته سپارلې دې ، غیر له دې چه د مجاهدینو صفت وکړې څه به وائې ؟ غیر له دې چه کمونیست ته بدرد ووائې څه به وائې ؟ غیر له دې چه د عکاسي او فلمبردارې د کمرو او خبرنګارانو د مکرو فونونو په وړاندې د سیاسي چل وتیونه ډکې فورمولیتې خبرې وکړې او ځان بې طرفه ښکاره کړې څه به وائې ؟

خو زمونږ یقین دې چه د افغانستان نو میالي مجاهدین او د الله تعالی د لارې سپیڅلي غازیان چه یولس کاله په نه ستړې کیدونکې ډول د روسانو او د هغو د ګوډاګیانو په خلاف وجنګیدل او په دغه لاره کې ئې د سرونو او مالونو قربانې ورکړې په دې خبره ډیر ښه پوهیږې چه افغانستان د دې پرچمي او خلقي لنډغرو له لاسه د تباهي کندې ته وغورزید او زمونږ د ملیونونو شهیدانو او بې اسرې یتیمانو ، زمونږ د کنډواله شویو کلیواو کورونو ، زمونږ د تباه شوې کروندې ، زمونږ د ملي شتمني د لوټ مار ، زمونږ د جوماتونو د شهادت او زمونږ د دین او قرآن د بې حرمتي اصلي عاملان همدغه خلقیان او پرچمیان دې او دا اجازه به ورنه کړې چه بیا خلقي او پرچمي لاس پوڅې په یو او بل نوم د منحوس فعالیت لار پیدا کړې او یا د مجاهدینو سره په دولتي اداره کې شامل کړې شي .

د کشمیر پرون او نن

د هند د نیمی وچی د ویشلو په وخت کی ایالتونو ته دا حق ورکړ شو چه د خپلو خلکو د خوښی سره سم د پاکستان او هند څخه له هریو حکومت سره چه وغواړی الحاق کولی شی . خود هند حکومت د انګریزانو په مرسته د یو سازش په وسیله جمو او کشمیر ته د داخلی ټولی لاری بندی کړی او بل طرف ته ئی خپل پوځونه کشمیر ته ورننه ایستل او د کشمیر د خلکو د آرزوګانو په خلاف ئی په دغه هیواد باندی خپله استعماری لمن وغوړوله .

د کشمیر مسلمانانو د هندی جارحیت په خلاف د مقدس جهاد جنډه او چته کړه او د خونړیو جګړو نه ئی وروسته د کشمیر یوه برخه د هندوانو له تسلط نه آزاده کړه چه د آزاد کشمیر حکومت پکی تأسیس شو . دغه ډول د ګلګت او بلتستان سیمی د مجاهدینو د بی پناه قربانیو په نتیجه کی آزادی شوی . په داسی حال کی چه د کشمیر مسلمانانو د خپلی آزادی او اسلامی تشخص د خوندی ساتلو لپاره د سرونو او مالونو قربانی ورکولی او سره له دی چه تش لاسی او بی وسلی وو ، خو د ایمان او اسلامی ثبات په وسله ئی د دشمن وحشیانه لښکری د جګړی په ډګرکی تل په شاتمبولی او میدان به ئی ګاټه . د هند حکومت د مجاهدینو د دغی ورځ په ورځ زیاتیدونکی بریالیتوب نه سخت په ویره کی شو او د سیاسی حربی په وسیله ئی د جګړی ډګر په دی خبره سوړ کړ چه د کشمیر مسأله ئی د ملګر و ملتو مؤسسی ته وړاندی کړه . دا هغه سیاسی توطیه وه چه د هند حکومت پکی کامیاب شو . ملګرو ملتونو خو په زبانی او کاغذی ډول د کشمیر د خلکو د خود ارادیت حق و مانه او فیصله ئی وکړه چه کشمیریانو ته دی حق ورکړی شی تر څو خپل سرنوشت

پخپله وټاکی ، او همدغه فیصله وه چه د کشمیر د جگړی تود میدان ئی سوړ کړ او د کشمیر په باب نه یوازی دا چه د ملگرو ملتود مؤسسی فیصلی ته څه اهمیت ورنه کړی شو ، بلکه د جگړی اور په داسی ډول مړشو چه کشمیری مجاهدینو تری هیڅ گټه وانه خسته . که مساله په دغه وخت د خبرواترو او د ملگرو ملتو رحم او شفقت ته نه وی پری ښودی شوی او جهاد ته ادامه ورکړی شوی وی ، تر اوسه به خبره فیصله وه او د کشمیر مسلمانان به د هندوانو له تسلط نه آزاد وای .

د هند حکومت د ملگرو ملتو د فیصلی مطابق په کشمیر کی د رایو اخستو هیڅ ډول اهتمام ونه کړ او تل ئی د مکر او فریب په وسیله ځان خلاص کړی دی . د هند پخوانی صدر اعظم جواهر لال نهرو څو څو ځل د ملگرو ملتو مؤسسی ته ډاډ ورکړی چه په کشمیر کی به آزاده رای گیری وشی ، مگر په دغی وعدی ئی وفاو نه کړه ځکه هغه نه غوښتل چه په کشمیر باندی دی د هندوانو غاصبانه قبضه ختمه شی .

دا خو د ملگرو ملتو د مؤسسی وظیفه وه چه خپلو فیصلو او قراردادونو ته ئی د عمل جامه وراغوستی وی ، خو افسوس دادی چه دغه بین المللی اداره د لویو شیطانی طاقتونو په لاس کی یوه آله ده او دنړی محکومو او مظلومو ولسونو ته د هغوی د حقوقو په سپارلو کی تر اوسه په کامل ډول ناکامه ده .

د ۱۹۵۷ کال نه راپدیخوا د ملگرو ملتو مؤسسی د کشمیر مسألی ته خوله نه ده ور وړی او نه ئی د خپلو مسئولیتونو په احساس سره د دغی مسألی د هواری لپاره څه دلچسپی اخستی ده .

د کشمیر د آزادی یوه طلائی موقع هغه وه چه چین د سرحدی تنازعی په سر د هند پوځونو ته عبرتناك شکست ورکړ ، که د کشمیر خلکو له دغه فرصت نه په گټه اخستلو سره د خپلی آزادی لپاره جهاد پیل کړی وی ، بیله شکه به د بریالیتوب پړاوته رسیدلی وی .

له هندی سلطی نه د کشمیر د آزادی بله ښه مرحله هماغه وه چه د هند او پاکستان ترمنځ د ۱۹٦٥ کال له جگړی وروسته د پاکستان تله درنه وه او کولی ئی شول چه د خپل کامیاب موقف نه په استفاده کولو سره د کشمیر د آزادی لپاره څه گټور گام پورته کړی ، خو نه پوهیږو د کومو و جوهاتو له مخی د پاکستان حکومت ، گټلی جنگ د تاشکند د خبرو په میز وبایله او په دی ډول دغه طلائی موقعه هم له لاسه لاړه .

اوس چه یو ځل بیا د کشمیر مسلمانان د خپلی اسلامی خاوری د آزادی لپاره د جهاد ډگر ته راوتلی او د هندی استعمار لاندی

کشمیری سیمه کی ئی حکومت له پښو غورزولی او گورنر او وزیر اعلی دواړو د حالاتو د قابو ساتلو لپاره د خپلی ناتوانی د اعلان په توگه استعفی ورکړی او د جگړو او مظاهرو په ترځ کی زیات شمیر مجاهدین شهیدان شوی او د هند حکومت په کشمیر باندی د خپلی غاصبانه قبضی د ساتلو لپاره زیات شمیر پوځونه د کشمیر مختلفو ښارونو ته لیږلی او غواړی چه په خپلو مذمومو هلوځلو د آزادی دغه جهادی تحریك له پښو وغورزوی ، ضروری خبره داده چه ټول اسلامی هیوادونه ، د خپل اسلامی مسئولیت په درك کولو سره د کشمیری مسلمانانو سره د اسلامی پیوستون په نوم راپورته شی او د کشمیر مسلمانان د هندی ښامارله کومی خلاص کړی .

د پاکستان حکومت د کشمیر د اوسنی جریان سره خپل ملاتړ څرگند کړی او دهند له حکومت نه ئی په ټینگه سره غوښتنه کړی چه په مقبوضه کشمیر کی قتل عام او زور زیاتی بند کړی او د کشمیر خلکو ته دی حق ورکړی چه خپل سرنوشت په خپله وټاکی .

بل طرف ته د پاکستان ټولو مخالفو گوندونو د کشمیر د خلکو سره خپل بشپړ پیوستون او ملاتړ اعلان کړی او د هند له حکومت نه ئی غوښتی چه د کشمیر مسأله باید د خبرو اترو له لاری په مسالمت آمیزه ډول حل شی .

د مخالفو گوندونو مشرانو په هغه غونډه کی چه د حکومت له خوا د ټولو گوندونو د اجتماع په نوم جوړه شوی وه ، د کشمیر د مسألی په باب خپل حمایت اعلان کړ . د مخالفو گوندونو مشرانو له غونډی نه وروسته د پاکستان خارجه وزیر صاحب زاده یعقوب خان په یوه مطبوعاتی مرکه کی وویل چه داغونډه په کشمیر کی د آزادی لپاره د جهاد د نوی مرحلی په باب را و بلل شوه او په هغی کی د مخالفو گوندونو ټولو مشرانو د حکومت د خارجه پالیسی په باب د نظر یووالی څرگند کړ ، خو البته سیاسی مشرانو دا غوښتنه هم وکړه چه حکومت باید د کشمیر د مسألی دښه تشهیر او د بین المللی ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره زیاتی هلی ځلی وکړی . دغه تجویز د حکومت له خوا ومنل شو او زیات شمیر استازی بهرنیو هیوادو ته واستول شول ، تر څو د کشمیر په باب بین المللی ملاتړ ترلاسه کړی او د کشمیر د مسألی حقیقت نړیوالو ته څرگند کړی .

د آزاد کشمیر صدر سردار عبدالقیوم خان د کشمیر د مسألی په باب په یوه ویناکی ویلی دی : سره له دی چه دا د کشمیر د آزادی

لپاره د مبارزی پیل نه دی او تردی وړاندی د کشمیر مسلمانانو د خپلی آزادی لپاره زیاتی قربانی ورکړی ، خو داخل د آزادی دغه کاروان دومره په بیړه روان دی چه مونږ یقین لرو چه منزل مقصود ته به ورسیږی . هغه وویل : زمونږ په نزد د آزادی جنګ که هر څومره هدف ته درسیدو په لاره کی له خنډونو سره مخامخ شی ، بیا به هم په خپل قوت سره روان وی او د جهاد هره مرحله نوی او تازه ده .

هغه وویل : د کشمیر تاریخ د جهاد او قربانیو تاریخ دی او تاریخ ثابته کړی ده چه کشمیری مسلمانانو د خپلی آزادی او اسلامی تشخص له پاره هر وخت د سر او مال قربانی ورکړی او هندی تسلط ئی نه دی منلی . د کشمیر د اوسنی تحریک ماتول د چا د وسی خبره نه وه .

د اسلامی جهوری اتحاد مشر جناب نواز شریف د کشمیر د مسألی په باب وویل : مونږ د جمو او کشمیر هغو آزادی غوښتونکو او تاریخ جوړوونکو مجاهدینو ته سلام کوو چه د ۱۹۳۰ کال نه راپدیخوا د خپلی آزادی او د خود ارادیت د حق لپاره په مبارزه بوخت دی . نواز شریف وویل : مونږ به په داخلی سیاست کی د حکومت سره څه اختلافات لرو ، مګر د کشمیر په باب د پاکستان ټول ملت یو موټی او یوزړه دی او د خیبر نه نیولی تر کراچی او د شاهراه ابریشم نه نیولی تر ګوادره پوری چه ټن ټول پاکستانی ملت د کشمیریانو د حقوقو لپاره په مظاهرو لاس پوری کوی ، دا ټول د دی حقیقت ښکارندوی دی چه د پاکستان ملت د کشمیر له مسلمانانو سره یوازی تهذیبی ، تاریخی ، دینی او جغرافیائی رشته نه بلکه روحانی او دوینی رشته هم لری او د مبارزی په دغه ډګر کی ټول پاکستانی ملت د کشمیر له مسلمانانو سره اوږه په اوږه ولاړ دی .

د افغانستان مؤمن او مجاهد ملت چه په اوسنی عصر کی د استعمار ماتونی د کاروان سالار ګڼل کیږی ، د کشمیر د مسلمانانو ملاتړ خپله دینی فریضه ګڼی او د هند له حکومت څخه غواړی چه په افغانستان کی د روسی استعمار له شکست او رسوائی نه د عبرت درس واخلی او په دی پوه شی چه د آزادی تحریک په وژلو ، تړلو او بمباریو او کورونو ورانولو نه ټکول کیږی . دا د آزادی اسلامی تحریک دی او هغه تحریک چه په اسلامی روحیه راپورته شی ، جبر او اختناق ئی د لاری خنډ کیدلی نشی . هند باید د کشمیر د مسلمانانو له قتل عام نه لاس واخلی او د کشمیر آزادی په رسمیت وپیژنی ـ کنه ، د افغانستان مجاهد ملت د تل لپاره د کشمیر د مسلمانانو ترشاولاړ او دی ته حاضر دی چه د اسلام د اعتلاء او پر مختګ لپاره په کشمیر کی هم د خپلو وینو قربانی ورکړی او هندی استعمار لکه د روسانو په شان په ګونډ وکړی .

اوسنی لیډری

م حم

لیډری ډوکه بازی شوه مداری ده
غم د چا ورسره نشته ځان ځأنی دی

ډلی ډلی ئی کړی جوړی په وطن کښې
سوچ دروغ وائی عالمه ځان ځانی ده

چا د روس غلامی قبوله کړه په خوښه
څوک په حقه خلك تیرباسی چالاکی ده

څوك په غم کی د وطن ژاړی په مکر
چا زده کړی په کلوکلو تګی ده

چا د خپل وُلس په وینو وطن رنګ کړ
چا اسلامه سره کړی غداری ده

لویه خدایه دا مظلوم وُلس به څه شی
تری نه ورکه د ژوندون ښه خوشحالی ده

نه ئی هلته څوك په مرګ باندی خفه دی
نه پری دلته کړی چا مهربانی ده

نه لحد د دوی په مړوباندی موړ شو
نه ژوندون کړی د دوی سره خپلوی ده

آسمانونه ئی په غم باندی ژړیږی
پر افغان وُلس نن جوړه قصابی ده

تــه مــوو ســاتــه قــادره لــويــه خــدايــه
زمــوږ لــه لاس څخــه وتلــی څــه بدی ده

دی جــهان کــی تنهــا مــوږ پــه اور سوځيږو
لــويــه خــدايــه پــر مــوږ جوړه تاريکی ده

دا وړه يتيمـــــان تـــول پـــه ژړا ژاړی
د شهيـــد پـــرونيـــو جـــوړه دلالـــی ده

د خره مينه

خلقيان وائی چه روسان زمونږ دوستان دی
دي دوستـــان ئـــی دا وينـــا نـــه ده غلتـــه

خو د خرس دوستـــی وژل دی او څيرل دی
څـــه ښـــه وائـــی د خـــره مينـــه ده لـغته

د نور څلی

ډير کسان دی چه دی تللی پسی تللی
پـاتـی شـوی ئی نه نخښی دی نه کلی

خـو چـه لار د شهادت ئـی ده نيولی
آبـدی ئـی دی پری ايښی د نور څلی

دلستوڼی مار

حمایت مود دښمن کله پکار دی
هر ملحد چه مو دوستی کوی غدار دی

د دښمن په دوستی کله خطاوزم
اخلاص نه لری دروغ وائی مکار دی

د روسانو خاطری چه کړم رایادی
غرب وماته په لستونی کی ښامار دی

د څلویښت کالو دوستی را ته بدی شوه
دا د لږ کلو په دوست څه اعتبار دی

چه د دوست په جامه راغلی زما کور ته
نن مو هغه دوست ومخی ته اغیار دی

د سره غوځ وفاداری زما عبرت شوه
پسله دی مو ونړی ته د اشعار دی

زه په فریب د دښمنانو نه تیروزم
د نفاق فوج رالیږلی کوم واکدار دی

نوره نه کوم دچا لاسو ته طمعه
ما د زهرو جام چیښلی په دی لار دی

که هر څومره سازش وکړی دښمنانو
ما ګټلی خپل ملت ته ابتکار دی

د فرنگ زولنی زما نیکو کړی ماتی
چنگیز هم زما له لاسه بی وقار دی

دلینن بت خانی ماکړی ټولی ړنگی
اوس په غرب باندی زما دغشی وار دی

د سره فوج د سره وحشت لښکر مومات کړ
د یهودو قافلو ته مو اخطار دی

زما د قدس شهیدان کله هیریږی
فلسطین زما د توری انتظار دی

د جهاد اتم مو جوړ کړ ونړی ته
زما د ساینس او د تخنیك سره هم کار دی

زما د ژوندی سره هیڅ محبت نشته
مرگ زما دی زما د مرگه سره کار دی

«په قلم د هرملحد سره چنگیږم»
«زه رودی یمه هروخت مو دا گفتار دی»

د ایمان زور

د افغان د ایمان زور ئی دی لیدلی
کمونیست به «کم» و «نیست» شی که خدای کړه

د کمون وحشت به بیرته ځی کمون ته
لدی وخت به «جم» و «نیست» شی که خدای کړه

ریش ماندن سنت مؤکد است

هـرآنکس ریـش او را مـی تـراشـد
وقــار و آبــرو را مــی خـراشد

چـوزن اطـراف رو لشـم وصفـا کـرد
مگــر درشــان مــردی بـس جفا کرد

تــرا مــردانــه پیـدا در جهــان کـرد
دریــن پیــدایــش الـطافـش نهان کرد

کـس از مـردانـه بـودن گـررضا نیست
تــراشیـدن بــه درد او دوا نیــسـت

نمیدانــی کــه ریــش از سنــت کیســت
همیــن وابســتـه انــدر ملــت کیـست

همیــن از سنــت خیــر الانــام اسـت
عمــل بـرآن الــی یــوم القیـام است

نــه تنــها از زبــانـش در فـشان کـرد
نــه تنـها ایـن عمـل دریك زمـان کـرد

صفــا و ستــره و زیبـا نـگاد داشــت
همــان در روی پــاك او بقــا داشـت

به امت داد فرمان نهادش
شوارب کم کنند از ازدیادش

همین از سنت فعلی است و فرمان
ازین بالاتر آیا هست برهان

همین ازدین و آئین خلیل است
هرآنکس پاکشد بالله ذلیل است

خلیل آن بود که بت ها سرنگون کرد
رسوم و عید نمرودی زبون کرد

به اوشد آتش نمرودیان سرد
نیامد ذره در مژگان او گرد

هرآن از راستی در ملت اوست
سپس داند که ریش از عزت اوست

همین از انبیاء تا اولیاء ماند
خصوص این از نظام مصطفی ماند

تراشش از یهود و نصاری است
کس ازین هر دو فرمان برد گمراه است

به سیحون اندرین کس کینه گیرد
سرناخون جهلش خینه گیرد

داسلامی تاریخ یوه پاڼه

د قبلی بدلیدل

د قومونو او مذاهبو د تشخص او پیژند ګلوی لپاره ځینی ځانګړی شعارونه موجود وی چه بیله هغو څخه د قومونو او مذاهبو مستقل موجودیت او تشخص معلومیدلی نشی . د اسلام مقدس دین د خپل تشخص اوهویت شعار د لمانځه هغه قبله و ټاکله چه د دغه هدف نه علاوه زیات حکمتونه او اسرار هم پکی پراته دی .

هغه ځانګړی خصوصیت او دلمر په شان ځلیدونکی صفت چه اسلام ئی له نورو ادیانو او مسلکو نو څخه ممتاز کړی ، عام مساوات او د عمل یو والی دی ، به دی معنی چه ټول مسلمانان یو شان دی او که چاته په اسلامی جامعه کی څه اختیار ورکول کیږی نو تله او میزان ئی یوازی تقوی ده او بس .

د اسلام لوی رکن لمونځ دی چه په ورځ کی پنځه ځله ادا کیږی . د لمانځه اصل صورت دادی چه د یوی ډلی او ګڼو خلکو سره په ګډه لمونځ ادا شی او د یو امام ترشاد مقتدیانو صف ودریږی او خپل حرکات د امام داشاری او هدایت تابع کړی .

نو ځکه خو ضروری خبره داده چه د لمونځ کوونکو د عمل لوری هم یو وی . د دغه اصل د په نظر کی نیولو سره د لمانځه لپاره یوه خاصه قبله و ټاکل شوه او ددی شعار لمن دومره پراخه کړی شوه چه یوازی دی قبلی ته مخ کول د کفر د دایری نه وتل او د اسلام بڼ ته دا خلیدل دی . پاتی شوه دا خبره چه دا قبله باید کومه وی او کوم لوری ته و ټاکل شی . یهودیانو او عیسائیانو خو

بیت المقدس خپله قبله گڼله ځکه د دوی ملی او مذهبی موجودیت په بیت المقدس پوری تړلی ؤ لیکن دهغه چا د پاره چه د بت ماتوونکی ابراهیم په ګدی ناست ؤ یوازی کعبه قبله کیدلای شوه ځکه چه کعبه د دغه لوی موحد یادګار او د خالص توحید ستر ښکارندوی دی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه معظمه کی دا ضرورت احساس کړی ؤ چه د ابراهیمی ملت داساس ایښودلو په لحاظ کعبی ته مخ کول یو ضروری کار دی ، خو په دغه لاره کی مشکل داؤ چه د قبلی اصل غرض او مقصد یعنی امتیاز او اختصاص پکی لاسته نه راته ، ځکه مشرکانو او کافرانو هم کعبه خپله قبله ګڼله ، له دی کبله به محمد صلی الله علیه وسلم مقام ابراهیم ته مخامخ ودریده او لمونځ به ئی اداْ کاوه چه مخ ئی بیت المقدس لوری ته ؤ په دی ترتیب به ئی دواړو قبلو ته مخ کیده .

په مدینه کی دوه ډوله خلك میشته وو ، یوه ډله مشرکان وو چه د هغوی قبله کعبه وه او بله ډله اهل کتاب وو چه بیت المقدس لوری ته به ئی لمونځ کاوه . خو څنګه چه د شرك په مقابل کی یهودیت او نصرانیت دواړه ښه ګڼل کیدل . نوله دی کبله به محمد صلی الله علیه وسلم تریوی مودی یعنی شپاړسو میاشتو پوری دبیت المقدس لوری ته لمونځ اداکاوه . خو کله چه په مدینه کی اسلام زیات پرمختګ وکړ بیا ددی خبری کوم ضرورت نه لیدل کیده چه اصلی قبله دی پریښودی شی او بلی قبلی ته دی مخ کړی شی . په دی وجه دا مبارك آیت نازل شو او دالهی حکم په اساس قبله بدله شوه :

فول وجهك شطر المسجد الحرام وحیث ماکنتم فولوا وجوهکم شطره .

(البقرة)

ترجمه: نوخپل مخ د مسجد الحرام خواته وګرځوی او په هر ځای کی چهٔ اوسی همدی لورته مخ وګر ځوی .

دا هغه اساسی حکم ؤ چه د قبلی د تحویل په باب صادر شو . دا حکم د دوهم هجری کال د رجب یاشعبان په میاشت کی نازل شوی دی . دا بن سعد روایت دا دی چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د بشر بن براء بن معرور کره میلمه ؤ . هلته د ماسپښین د لمانځه وخت راورسید او آنحضرت صلی الله علیه وسلم دامامت لپاره پورته شو . دوه رکعته لمونځ ئی کړی ؤ چه په دریم رکعت کی ناڅاپی دوحی په واسطه دغه آیت نازل شو او ورسره جوخت پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دهغه ټول مقتدی جماعت د بیت

المقدس له لوری نه کعبی طرف ته مخ واړاوه . وروسته په مدینه او شاو خوا سیموکی هم د قبلی د بدلون اعلان وشو . براء بن عازب وائی چه په یو ځای کی د منادی آواز په داسی وخت کی راورسید چه د رکوع په حالت کی وو ـ د حکم په اوریدلو سره ټول درکوع په حالت کی کعبی طرف ته واوښتل . انس بن مالك وائی چه بنی سلمه ته دغه اطلاع د دوهمی ورځی د سهار د لمانځه په وخت راورسیده ، خلکو یو رکعت لمونځ ادا کړی ؤ چه دا آواز ئی تر غوږو شو . خبر شئ چه قبله کعبی ته بدله شوه . د دغه غږ په اوریدو سره ټول جماعت د کعبی لوری ته مخ وگر ځاوه .

د یادولو وړ خبره داده چه بیت المقدس د مدینی شمال ته واقع دی او کعبه بلکل لویدیځ لوری ته پر ته ده . د جماعت د لمانځه په وخت د قبلی په بدلیدوکی به خامخا امام د مقتدیانو نه شاته راته او مقتدیان به یواځی دانه چه خپل مخونه کعبی ته وگرځوی بلکه باید جسماً کعبی لوری ته ودریدلی وی ، بلکه داسی به شوی وی چه خپل صفونه به ئی له نوی سره جوړ کړی وی چه ځینی روایات هم د دی خبری تصدیق کوی .

او دا چه الله تعالی فرمائی : قدنری تقلب و جهك . یعنی مونږ وینو چه ته بیابیا آسمان طرف ته گوری . او یاداچه فرمائی : فلنولینك قبلة ترضاها .

یعنی مونږ تا هغی قبلی ته راگرزوو چه ستا خوښه ده . د دی نه دا خبره په ډاگه کیږی چه د قبلی د بدلون د حکم د نزول نه وړاندی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دغه حکم منتظر ؤ . هغه دا احساسو له چه دبنی اسرائیلو دامامت عصر تیر شوی او ورسره د بیت المقدس مرکزیت هم ختم شوی دی او اوس دا وخت را رسیدلی چه خلك باید اصلی ابراهیمی مرکز ته مخ وگرځوی .

د قبلی بدلون د یهودیانو د قهر سبب شو . ووی د مشرکانو په مقابل کی د مذهبی تفوق دعوه کوله او داسلام نه وړاندی مشرکانو هم د دوی دغه مذهبی امتیاز منلی ؤ ـ تر دی چه د ابوداود د روایت په اساس ، د چا چه به اولاد ژوندی نه پاتی کیده نو دانذر به ئی ایښوده چه که داماشوم ژوندی پاتی شو مونږ به ئی یهودی کړو . اسلام د دوی دغه مذهبی درنښت او اعتبار ختم کړ مگر بیا هم څنگه چه تر دغه وخته د مسلمانانو قبله بیت المقدس وه ، نو دوی به بیاهم په دی زړه ښه کاوه چه مسلمانان د دوی قبلی ته مخ کوی . د قبلی په تحویل سره د دوی د قهر

او غضب ځپي طوفاني شوی او دا پیغوورونه ئی پیل کړل چه محمد صلی الله علیه وسلم په هره خبره کی زمونږ سره مخالفت کوی نو ځکه ئی قبله هم د مخالفت په نیت بدله کړه . د ځینو خلکو په زړونو کی دا سودا راپیدا شوی وه چه قبله ولی بدله شوه . په دغه وجه الله تعالی د قبلی داصلیت او ضرورت په باب څو آیتونه نازل کړل تر څو د هغو له زړونو څخه شك او تردد لیری کړی :

«سیقول السفهاء من الناس ما ولهم عن قبلتهم التی کانو اعلیها قل لله المشرق والمغرب»

او ـ «وما جعلنا القلبة التی کنت علیها الالنعلم من یتبع الرسول ممن ینقلب علی عقبیه وان کانت لکبیرة الاعلی الذین هدی الله»

او ـ لیس البران تولوا وجوهکم قبل المشرق والمغرب ولکن البرمن امن بالله والیوم الاخر والملئکة والکتب والنبیین واتی المال علی حبه ذوی القربی والیتامی والمساکین و ابن السبیل والسائلین وفی الرقاب .

ترجمه: بی عقلان به دا اعتراض وکړی چه مسلمانان له خپلی قبلی نه وگرځیدل . ته ورته ووایه چه مشرق او مغرب ټول یوازی د خدای دی . ستا چه کومه لومړی قبله وه (کعبه) هغه مونږ بیا بیر ته قبله کړه ، ددی سبب دادی چه دا معلومه شی چه د پیغمبر منونکی څوك دی او د پیغمبر نه په شا گرځیدونکی څوك دی او بیشکه دا قبله ډیره درنه او سخته ده پرته له هغو خلکو چه خدای ورته لارښوونه کړی ده .

مشرق او مغرب ته مخ کول د ثواب یوائینی وسیله نه ده ، ثواب خودادی چه انسان په الله تعالی ، قیامت ، ملایکو او د خدای په کتابونو او پیغمبرانو ایمان راوړی او د خدای په مینه کی خپلوانو ، یتیمانو ، مسکینانو ، مسافرو ، سوالگرو او مریانو ته خپل مال ورکړی .

په دغو آیتونو کی الله تعالی داوښوده چه قبله اصل هدف نه دی ، د الله تعالی د عبادت د پاره مشرق او مغرب ټول برابر دی . هر طرف ته الله تعالی دی . له دی وروسته ئی د قبلی د ټاکلو ضرورت و ښود چه دایو اختصاصی او امتیازی شعار دی چه د هغه په وسیله به د واقعی او غیر واقعی مسلمانانو تر منځ د فاصل کوښه راکښل شی . ډیر یهودان داسی وو چه په منافقانه ډول به ئی ځانونه مسلمانان گڼل او لمونځونه به ئی په جماعت سره اداء کول ، خو کله چه د بیت المقدس په ځای کعبه د قبلی په حیث و منل شوه ، نو د نفاق راز ئی را ښکاره شو او یوه هم داونه زغمله چه دده د قومی او مذهبی

تشخص د بنسټ (بين المقدس) سره دی د ده ارتباط وشليږی . بيا الله تعالی و فرمايل چه يوی خاصی قبلی ته مخ کول هم د انسان د نجات يوازينی وسيله نشی کيدی بلکه د نجات او رستگاری راز په ايمان او نيك عمل کی نغښتی دی .

باران

آسمـانـه واوره بـاران مـه اوروه!
زه لادوينـو بـارانـونـه لـرم

ستـا تـوکـوونکی غـاتـول نـه غواړمه
چـه د شهيد گل پـرهـرونـه لـرم

آسمـانـه واوره بـاران مـه اوروه!
پـه وينـو پـالـم د وطـن گلـونـه

کړم او بـه خـور بـه ئـی د تن پـه وينه
تـازه بـه سـاتـم د چمـن گلـونـه

آسمـانـه واوره بـاران مـه اوروه!
زه د غليـم پـرسـرېلـی اور وم

چـه زمـا لـور تـه ئـی کاږه کتلـی
پـه سره دښمن می سری گلی اور وم

آسمـانـه واوره بـاران مـه اوروه!
زه لا دوينـو بـارانـونـه لـرم

دوخـت فـرعـون تـه يـو توپان جوړوم
لا پـه آمـو کښـی غـورځنگونه لرم

د سرنگر په ښار کښې مسلمانانو دوه هندي مامورين ووژل

د باوري خبر ځايونو خبر دی کله چه د سرنگر د حکومتی تلويزيون مدير د خپل دفتر څخه کورته راته ، وويشتل شو او وروسته مړ شو . د تلويزيون مدير ته څو کرتی د کشميري سرتېرو له خوا د مرگ گواښونه شوی وو . د ښاغلی «کاول» ملگری وائي چه ده مقاماتو ته د مرگ د گواښونو په باره کې خبر ورکړی ؤ ، خو حکومت د هغه د ساتنی د پاره پوليس موظف نه کړل . وروسته له هغه چه دراډيو تلويزيون مدير ووژل شو ، د کارگرانو اتحاد ئي د حکومت نه وغوښتلچه دراډيو او تلويزيون د کارگرانو له پاره چه په جمو او کشمير کښې کار کوي امنيتي ترتيبات ونيول شي . ځکه چه هغوي د عدم امنيت په فضاء کښې ژوند کوي . همدارنگه څو ورځی وړاندی د استخباراتو يو مامور وتښتول شو او بيا د ښار نه بهر په يوه ونه کښې غرغره شو . دا داستخباراتو دويم مامور ؤ چه په دوه ورځو کښې ووژل شو . خبري آژانسونه وائي چه د سرنگر پوليسو او مليشهٔ ؤ د مبارزو کشميريانو (۱۵) پټ ځايونه لټولی دی . تر اوسه پورې نه دي ويل شوي چه څوك نيول شوي يا وسله پيدا شوی ده . نورو مامورينو ويلی چه د استخباراتو له وروستيو راپورونو نه ښکاري چه مبارزو کشميريانو راکټ لينچر او توغندي لاسته راوړي دي او غواړي چه زياته خرابکاري وکړي . په وروستي انکشاف کښې د جمو او کشمير د سترې محکمې د کار کوونکو اتحادئې ويلی چه په دغه ايالت کښې د پوليسو د زور زياتي له کبله به د حکومتی ماموريت نه استعفی وکړي . نطاق وويل چه په زرگونو د دعوی وکيلان دا کار د کشمير د خلکو سره د ملاتړ د پاره کوي . سرنگر او د کشمير په ټوله سيمه کښې د پاتی په ( ) مخ کښی

په تاجکستان کښې د روسانو په ضد مظاهرې

په تاجکستان کې د ناآرامیو لومړۍ راپورونه د شوروي د خبررسانۍ ایجنسۍ (تاس» له خوا ورکړل شول او وئې ویل چه په دې ښار کې د سختې ناقرارۍ له امله خلکو په چور او چپاؤ شروع وکړه نو ځکه د ولایت پارلمان په دوشنبې ښار کې اضطراري حالت اعلان کړ او د شپې له پلوه سخت بندیز ولګول شو . په راپورونو کښې ویل شوي چه مظاهره چیانو د کمونیست ګوند د دفترونو په مخکښې د کمونیست ګوند په خلاف نارې وهلې چه د دې مظاهرې د شدت د پیدا کولو په نتیجه کښې یو شمیر خلك مړه او نور ټپیان شول ، د خلکو د ازدحام او مظاهرې د راپورونو سره سم مظاهره کوونکو په کاڼو ویشتلو سره د پولیسو په یو ماموریت حمله وکړه او یو سرویس موټر ته ئې اور واچوه

حتی ویل حېږي چه د کمونیست ګوند .فتر ته ئې هم اوروړته کړو ، د دې ناقرارۍ ځخه داسې څرګندېږي چه دا کار محلي خلکو د هغو خوابدیو له کبله کړی چه په هغه جمهوریت کښې راتلونکو ارمنی مهاجروته په رعایتي ډول کورونه ورکول کېږي .

په شوروي کښې دا لومړۍ نخښې نخښانې دی چه د قفقاز د اقلیتونو او مذهبی تشنج لمنه د کسپین له بحیرې نه پورې غاړه دختیځ نه منځنۍ آسیاته خپرېږي چه دا د ګورباچوف او په مسکو کې د برسراقتدار کمونیست ګوند له پاره یوه جدي خبره ګڼل کېږي .

په مرکزی آسیا کښې چه اکثریت خلك ئې مسلمانان او (۳۵) میلیونه نفوس په کښې ژوند کوي . مسکو غواړي چه دا سیمه آرامه وساتي ، په دې سیمه کښې مختلف نژادونه لکه ازبکان ، تاجکان ، ترکمنان ، قزاقان ، روسان او نور له اوکراین ځخه راکډه شوی خلك او ځنی نور کوچني ملیتونه مېشته او ژوند کوي چه ستالین دې سیمې ته راوستي وو .

دغه رپوټونه څه ناڅه حیرانتیا راپیدا کوي ، هغه له دې کبله چه په تاجکستان کې د آرمنیانو اقلیت خورا کوچنی دی څو په دې جمهوریت کی دوئ ته د راپورته کېدو موقع لاسته ورنه شي .

خو د مرکزی آسیا په یو جمهوریت کښې دارمنیانو په ضد رپوټونه تائید وی چه د مرکزي آسیا مسلمانانو د خپل آذربایجاني ورونو سره خپل کلك ملاتړ څرگند کړی دی .

تاجکان برعکس د نورو مسلمانانو په شان په ترکی ژبه نه پوهېږي ، د دوئ ژبه فارسي ده چه د افغانستان دري ژبې ته نږدې ده ، د دوئ اسلامي احساسات د سرحد نه پورې غاړه افغانستان کښې د کمونیزم پرضد د جهاد په نتیجه کې دراژوندي کېدو په حال کې دي او د افغانستان مجاهدینو ته د تاجکستان مسلمانان د خپلو ورونو په سترگه گوري .

گورباچوف ته د تاجکستان په دوشنبی ښارکې راپورته شوی ناقراري په اسلامي غورځنگونو په څیر یوه ځانگړی محلي څپه ده .

ضمناً دا گرانه خبره ده چه د پخوانیو رپوټونو ارزیابی دې د دغو ناکراریو په هکله وکړی شي خو د احتجاج کوونکو راټولېدل به د کمونیست گوند نه بهرد مسکو دواکدارانو د پاره سرخوږي پیدا کړي لکه چه په نورو جمهوریتونو کې د ملیت پالنې غورځنگ راپارېدلی نوشاید چه د کمونیست گوند پر ضد په تاجکستان کې اسلامي غورځنگ هم وځېږي .

د (   ) مخ پاتی

د سرنگر په ښار کښې مسلمانانو دوه هندی مامورین ووژل

جنوري د شلمې نېټې نه را په دې خوا په گرځېدو راگرځېدو بندیز لگول شوی دی . په سرنگر کې زښتی زیاتې ملیشه قواوې اچول شوي دي چه دغه بندیز عملي کړي . بله خبره په سرنگر کې په خبرو باندی بندیز لگول دی . اوس خبرونه یوازې حکومتي اطلاعاتي موسسې خپروي او ورځپانو په څوتېرو هفتو کښې نه دي چاپ کړي . او خارجي خبریالان نه پرېږدي چه کشمیر ته ولاړشي وروسته له هغې چه په (۱۹٤۷) م کال کې هند په دوه برخو وویشل شو . کشمیر د هند او پاکستان ترمنځ د اختلاف وړ موضوع ده . د دواړو هیوادو تر منځ درې ځلې جنگونه شوي چه دوه ئې د کشمیر په سر وه . په دې ورځو کښې د سرحد په دواړو خواوو کښې خلك په غصه دي ، څو ورځی وړاندی کله چه مظاهره چیان د هندي کشمیر خاوري ته ننوتل سرحدی قواؤ په هغو دزې وکړې یو شمیر کشمیري مظاهره چیان شول

آذربائیجان

د روس لپاره نوی افغانستان

په څومره رسوائی او د ګردی نړی په وړاندی د ذلت او شرمندګی د داغ په ګټلو سره چه روس له افغانستان نه ووت، هماغه ذلت او رسوائی ورته د ختیځی اروپا او بالتیك له هیوادونه وروسته، اوس د منځنی آسیا د اسلامی هیوادو له خوا مقرر شوی ده .

روسی استعمار او د کرملین جلادانو چه د افغانستان د اشغال لپاره کوم خوب لیدلی ؤ او کوم خیال ئی چه د دی میړنی ملت د اسیر ساتلو او د کمونیزم او اشتراکیت په جال کی د مجاهد زیږوونکی افغانستان د ښکیلولو لپاره په سرکی روزه، د افغانستان نومیالیو مجاهدینو او د حق د لاری قهرمانو سرښندونکو ورته نه یواځی دا چه دغه ټول استعماری خیالونه او خوبونه له خاورو سره خاوری کړل، بلکه ټولو اسیرو او د کمونیزم په زولنو تړلو ملتونو ته ئی د آزادی او د خپلو حقوقو د غوښتنی درس ورکړ او په هغو کی ئی د خود ارادیت د حق طلبی احساس راژوندی کړی او همدغه د افغانستان د مجاهد ملت د جهاد او مبارزی درس ؤ چه نن د کمونیزم او اشتراکیت په منحوس جال کی ټول ښکیل ولسونه د کمونیستی حکمروایانو په خلاف را پاڅیدلی او د آزادی جنډه ئی اوچته کړی ده . د څه مودی راهیسی چه د آذربایجان په مسلمانانو کی د روسی تسلط نه د آزادی اخستو او د یو جلا خود مختار او آزاد اسلامی دولت د تشکیل او د خپل اسلامی تشخص د ټینګښت کوم تحریك

شروع شوی دی، د سیاسی مبصرینو په قول دغه تحریك به د روس لپاره داوسپنی له چت نه زیات سخت او له افغانستان څخه د روسی پوځونو له تښتیدو نه څو چنده زیات رسوا کوونکی او شرموونکی وی!

سره له دی چه د کرملین خونخوارو جلادانو د مسلحو پوځونو په استولو سره په آذربایجان کی د کمونیزم د ظلم او تشدد ډیر ناوړه مثالونه وړاندی کړل، خو دا حقیقت څو ځله نړیوالو ته ثابت شوی چه دوسلی په زور په انسانانو باندی حکومت کول څه آسانه خبره نه ده.

روسی سرد مدار د نړیوالو په سترګو کی د خاورو شیندلو لپاره یوه موده د فریب او مکر قبا واغوسته او د ګلاسنوست او پریسترائیکا د اصطلاحاتو ډول ئی وغږ اوه، خو د آذربایجان په مسلمانانو باندی د ټانکونو ورخیژولو او د زهرجنو مرمیو د باران سره سم د دغو اصطلاحاتو پر ده څیری شوه او له منځ نه ئی د اشتراکیت اصلی خونړی لاس راښکاره شو ـ هغه لاس چه یوه اوږ ده موده ئی د نړی د مجبورو او مظلومو انسانانو په وینو ټوله نړی په وینو سره کړی وه.

آذربایجان د ایران او روس په پوله پروت دی. له لویدیځ لوری له ترکیی، عراق او روسی ارمینیا سره تړلی دی. له ایران سره د آذربایجان سرحدی پوله یوسل او دیرش میله اوږده پرته ده. د آذربایجان له اوو ملیونو نفوسو څخه په سلوکی نوی تنه مسلمانان دی او پاتی لس فیصده ئی د آرمینیا عیسائی اوسیدونکی، روسان او نور قومونه تشکیلوی. دغه سیمه په لومړیو وختو کی د ایران یوه برخه وه، خو وروسته د روسی استعمار د پراختیا غوښتنی د حرص قربانی او په دوو برخو وویشل شوه چه یوی برخی ته ئی روسی آذربایجان اوبلی ته ئی ایرانی آذربایجان وائی. د ایرانی آذربایجان نفوس له لسو ملیونو څخه زیات دی او د روسی آذربایجان اوسیدونکی اوس هم د ایرانی آذربایجان له اوسیدونکو سره په ژبنی، دینی او خاندانی رشتو باندی تړلی دی. له کلونو کلونو راپدیخوا د دواړو هیوادو په سرحدی پوله باندی د آذربایجانیانو غیر قانونی تګ راتګ روان دی او له اوږدی مودی نه راپدیخوا دغه سیمه د ایران او روس ترمنځ د یوی متنازع مسألی حیثیت لری.

کله چی د کمونیزم په زندان کی ښکیل شوی مسلمان آذربایجانی ملت د یونیم سل کلونو جبر او کړاو له زغملونه وروسته د جهاد او آزادی او د اسلام د نشاة ثانیه غږ پورته کړ او د کمونیستی جبر او استبداد په خلاف ئی د

جهاد اعلان وکړ ، نو روسی سردمدار گوربه چوف چه غوښتل ئی د ختیځی اروپا د نهضتونو مطالبی او غوښتنی د خبرو اترو له لاری حل کړی ، خو د آذربایجان د مسلمان ملت د حقه مطالبی ځواب ئی په ټانکونو او اتوماتیك مدرنو وسلو ورکړ او دا مذمومی هلی ځلی ئی پیل کړی ، تر څو د آذربایجان د مسلمانانو جهادی تحریك د ټانکونو په زور وټکوی . خو د آذربایجان د مسلمانانو تحریك د زرگونو کسانو په نذرانه کولو سره د قوت او پوخوالی یوی نوی مرحلی ته رسیدلی دی . په ښکاره خو په آذربایجان کی اړو دوړ او هنگامی د پنځه کم پنځو سو آذربایجانی اوسیدونکو د ترور له واقعی نه پیل شوی چه وروسته له آرمینیا سره دنگورنو کارا باخ په سر په اوږدو جگړو بدل شوی او د کورنی جگړی شکل ئی اختیار کړ او بالاخره روسی پوځونو په آذربایجان باندی نیغ په نیغه حمله وکړه ، خو په حقیقت کی دغه هنگامی د روسی ظلم او استبداد په خلاف د مسلمانانو د آزادی غوښتنی تحریك دی چه غواړی د روسی آذربایجان او ایرانی آذربایجان د انضمام او یو ځای کیدو په صورت کی یو آزاد او خود مختار اسلامی حکومت جوړ کړی . نگورنو کارا باخ د آذربایجان مسلم حق دی چه کمونستانو د آرمینیا عیسائی حکومت ته سپارلی وو او له هماغه وخته د نگورنو کارا باخ د مسألی په سرد آرمینیا او آذربایجان ترمنځ د دښمنی نوغی شین شوی دی . په تیرو دوو کالو کی د نگورنو کارا باخ په مساله باندی د تشدد په واقعاتو اوسنی حادثات له ټولونه زیات درانه دی . دغه حوادث په نگورنو کارباخ باندی د ملکیت د حق غوښتنی څخه پیل شوی او دادی سرئی د آذربایجان د آزادی غوښتنی سرحد ته ورسید . د هنگامو په پیل کی د آذربایجان او آرمینیا له خوا په یو بل باندی هوائی او ځمکنی حملی وشوی چه زرگونه تنه د دغو جگړو په ترڅ کی مړه او زخمیان شول . ورپسی د کرملین خونخوارانو په دغه سیمه کی داړو دوړ دغلی کیدو په پلمه ، خو په حقیقت کی د آذربایجان د خلکو د آزادی غوښتنی او د اسلامی حکومت د تشکیل لپاره دراوچت شوی تحریك دله منځه وړلو لپاره ځلویښت زره په وسله سمبال پوځ د آذربایجان مرکز باکوته واستاوه او د اضطراری حالاتو په اعلانولو سره ئی په زیاتو سیمو کی په گرځیدو راگرځیدو سخت بندیزونه ولگول خو ددغو ټولو اضطراری حالاتو د اعلان سره سره د آذربایجان خلکو مظاهرو ته دوام ورکړ او په هر ځای کی ئی د روسی پوځونو د پرمختگ مخه ونیوله ، په سوونو زر گونو تنه د باکو د ښار سرکونو ته راووتل او د روسی ټانکونو په وړاندی لکه

بنیان مرصوص و دریدل . د روسی پوځ یو قوماندان په خپله تلویزیونی وینا کی وویل : زمونږ په امنیتی پوځونو باندی د خلکو له خوا حملی کیږی . د خلکو د قهر جذبه دومره توده ده چه زړه ئی غواړی په ټانکونو ورو خیژی او قبضه ئی کړی . د تاس آژانس په یوخبر کی وویل چه په آذربایجان کی روسی پوځونه له سختو ستونزو سره مخ دی او په هر ځای کی ورته د خلکو له خوا خنډونه جوړ شوی دی . خلکو د آذربایجان د یو بل لوی ښار کرد آباد هوائی ډگر محاصره کړی او د روسی پوځونو د پرمختگ مخه ئی نیولی ده ، بل طرفته د نگورنو کارا باخ په غرنیو سیمو کی د آذربایجانی او آرمینیائی او سیدونکو تر منځ سخته جگړه روانه ده . برسیره پردی پوځی او امنیتی پوستی د خلکو تر حملو لاندی دی .

د جنوری په شلمه نیټه روسی سرد مدار گورباچوف اعلان وکړ چه په آذربایجان کی د یو آزاد او خود مختار اسلامی دولت د جوړیدو لپاره هلی ځلی روانی دی او دغه هنگامی زما د نویو اصلاحاتو د تطبیق په لار کی ستر خنډونه برابر وی .

د روسی جلاد د دغه اعلان نه وروسته ، روسی پوځونو ته د آزادی غوښتونکو مسلمانو مظاهره کوونکو په خلاف د هر ډول ظلم او استبداد اجازه ورکړی شوه او روسی ټانکونه او مسلحی پوځی ډلی په پوره بی رحمی سره د باکو د ښار کوڅو ته ور داخل شول ، ټول هغه آزادی غوښتونکی چه خپلی سینی ئی سپر کړی وی ، د روسی ټانکونو د ځنځیرونو خوراك شوی ، له سپرلیوډك بی شمیره بسونه د ټانکونو لاندی شول او سپاره کسان پکی یا خو د ټانکونو په واسطه وچقول شول او یا وروسته روسی پوځیانو په مشینونو چڼ وڼ کړل . په دغو قیامت ته ورته حادثاتو کی له دری زرو څخه زیات مسلمانان د روسی وحشیانو په لاس شهیدان شول ، خو بیاهم د روسی څلویښت زره کسیز سور بی رحمه پوځ ، داخله وزارت او د کی - جی - بی دستگاوی د خپل ټول قوت د استعمال سره سره د آذربایجان په آرامولو او کنترولولو کی ناکام دی . د بغاوت په دوهم سحر د آذربایجان د هرکور په بام باندی توری جنډی اوچتی شوی او خلکو په یو آواز د روسی جارحیت او استبداد په خلاف چیغه پورته کړه ، د شهیدانو د جنازو په جلوس کی له لسولکو نه زیاتو کسانو برخه واخسته چه ټولو د تورو جامو په اغوستو سره د روسی جارحیت په خلاف کرکه او نفرت څرگند کړ . ښځو په چیغو چیغو ژړل او د باکو په ښار باندی د شهیدانو په غم کی دژړا او انگولا فضا راخوره وه .

د آذربایجان خلك د روسی وحشت په

خلاف په شدید غم او غصه کی پراته دی او یوازی دانه چه د روس په خلاف ئی د گوریلائی جگړی اعلان کړی بلکه دا هوډئی کړی چه آذربایجان به د روسی کمونیزم او دهریت له منحوسو منگولو څخه خلاصوی او هلته به یو آزاد او مستقل اسلامی حکومت جوړوی .

په آذربایجان کی د کمونیست باند څلور لکو تنو غړو د خپل غړیتوب کارتونه وسوځول او د کمونیست باند سره ئی خپلی ټولی اړیکی وشلولی . دسیمی حکومتی مامورینو او پولیسو هم د مسکو د ظالمانه او جابرانه احکامو له تطبیق نه په ښکاره سرغړونه پیل کړی ده . د کورونو نه بامونو او کړکیو څخه په روسی پوځیانو باندی د ډزو سلسله روانه ده او خلکو د «پاپولر فرنټ» سره خپل بشپړ ملاتړ اعلان کړی ، دغه جبهه لس میاشتی وړاندی جوړه شوی ده . د مسلحو مجاهدینو او روسی پوځیانو ترمنځ ځای ځای د ډزو سلسله روانه ده او کله کله داسی هم پیښه وی چه په موټر سایکل سپاره مسلح آزادی غوښتونکی د پولیسو او یا پوځیانو په جامه کی ، په روسی پوځیانو باندی لکه آسمانی تندر راپری وزی ، په وینو کی ئی ولمبوی او بیا لکه د بریښنا پړق پناه شی . د روسی د دفاع د وزیر د ادعا سره سم د آذربایجان په جمهوریت کی د څلویښتو زرو تنو څخه زیات مسلح آزادی غوښتونکی د روسی پوځ په خلاف په جگړه اخته دی .

د آذربایجان پارلمان فیصله کړی چه که روسی پوځونه ژر تر ژره له دغه هیواد نه و نه وځی ، پارلمان به له روسیی څخه د خپلی آزادی په اعلان کی تندی وکړی .

د پاپولر فرنټ یو مشر اختیار محمد ؤف وویل : که گورباچوف د یونوی افغانستان په آرمان وی ، نو د آذربایجان په شکل کی به ورته راوړاندی شی . دغه سړی څه موده وړاندی د روسی پوځیانو له خوا نیول شوی دی .

د بالتیک د هیوادو او ختیځی اروپانه وروسته د منځنی آسیا په هیوادو کی د آزادی اوسنی تحریک ، د اشتراکیت د بت د ماتولو لپاره د خپل بریالیتوب وروستی پړاوونه وهی او زمونږ یقین دی چه ډیر ژر به د منځنی آسیا په بام باندی یوځل بیا د اسلام باعظمته بیرغ ورپیږی .

(انشاءالله)

د کوئیار د حل لار

د ملګرو ملتو د مؤسسي سرمنشي ، د افغانستان د مسالې د حل لپاره یوه فامور له جوړه کړې او هغه ئې د نوې فارمولې په حیث یا ده کړې ده .

کوئیار وائي : د افغانستان د مسالې د سیاسي هوارې لپاره دې یوه له دغو دریو لار و څخه تعقیب شي او افغان مجاهدین دې هم ورته غاړه کیږدي ؛

لومړې دا چه داسي یو مشترك حکومت دې په کابل کې منځته راشي چه په هغه کې د کابل ګوډاګي رژیم ، افغان مجاهدین ، د پخواني پادشاه طرفداران او د رژیم ټول مخالفین برخه ولرې .

یا دا چه د افغانستان د مسالې په ارتباط دې یو بین المللي کنفرانس را و بلل شي او په هغه کې دې د کابل کمونیست حکومت ، پاکستان ، ایران ، هند ، روس ، امریکا او چین نمایندګان ګډون وکړي او د کنفرانس نه لاسته راغلي نتایج او فیصله باید عملي شي .

او یا دا چه د ملګرو ملتو د مؤسسي تر نظارت لاندې دې په افغانستان کې آزاد انتخابات سرته ورسي .

په نننۍ بحث کې غواړو د «کوئیار» د دغې نوې طرحې په باره کې چه په حقیقت کې څو څوځله تکرار شوې او د مجاهدینو له خوا په کامل ډول رد شوې ، و غږیږو .

د افغانستان مؤمن او مجاهد ملت ، د روسي استعمار او د هغه د مزدور رژیم په خلاف په خپل اوږد جهاد او حقه مبارزه کې چه یونیم ملیون شهیدان ئې د الله په لاره کې نذرانه کړل یوازې یو ټاکلې هدف درلود او هغه په افغانستان کې د یو اصیل اسلامي نظام

ټینګښت او په دی خاوره کی د انسان له بندګی څخه د انسان آزادی وه او ده . او تر هغه چه دافغانستان مؤمن ملت خپل دغه عالی هدف ته رسیدلی نه وی ، مقدس جهاد او مبارزه به په خپل ټول قوت سره روان وی . د نړیوال امنیت د ټینګښت دعویداران باید له هر څه وړاندی د افغانستان د جګړی په عواملو بحث وکړی او ځان ورباندی پوه کړی چه دغه جهاد په افغانستان کی د کمونیست او دهری رژیم د رامنځته کیدو سره سم پیل شو او داهغه وخت ؤ چه د هیواد د سیاسی چارو واګی یوی ملحدی او له خدایه د باغی ډلګی لاسته ورغلی ، دوی عملا د اسلام او مسلمانانو په خلاف هغه جنایتونه سرته ورسول چه انسانیت ورباندی شرمیږی او انسانی تاریخ به ئی له یادولو څخه عار کوی .

دا د افغانستان مؤمن ملت ؤ چه په تش لاس مګر یوازی د ایمان په قوت ئی د یو وحشی دولت په خلاف د مبارزی او جهاد جنډه اوچته کړه او د داسی یو جنایت کار دولت سره ئی په ډغره وهلو پیل وکه چه د نړۍ ستر شیطانی طاقت یعنی کمونیست روسی دولت ئی تر شاولاړؤ ، خو څنګه چه دافغانستان د مؤمن ولس قیام او مقدس جهاد یوازی د الله د رضا او یوازی د الله د کلمی د لوړتیا په خاطر پیل شوی ؤ او د کایناتو د خالق الله تعالی مرسته او نصرت ئی ملاتړ ؤ ، ورځ له ورځی ئی پراختیا وموندله او د یوی مودی په تیریدو سره داسی وخت راورسید چه د هیواد هره تیږه او هر بوټی د ملحدانو او د هریانو لپاره مجاهد . مجاهد شو . هر افغان مسلمان د جهاد په مورچل کی کښیناست او د کمونیست رژیم په خلاف ئی جګړه خپله اسلامی فریضه و ګڼله او هغه وخت چه زمونږ د مؤمن او مبارز ولس حقه مبارزه د یوی لنډی مودی په تیریدو سره د بریالیتوب درشل ته ورسیده او د کمونیست رژیم د سقوط شیبی په رارسیدو شوی او روسی جلادان پدی پوه شول چه مزدور او ګوډاګی رژیم ئی د مجاهدینو په لاس د نابودی کندی ته غورزیږی یو لك او شل زره تنه په مدرنو وسلو سمبال پوځ ئی یوازی او یوازی د کمونیست رژیم د بقا او نجات په خاطر د افغانستان په خاوره راوغورزاوه او د انسانیت او ګاونډیتوب ټول حقوق ئی تر پښو لاندی کړل او په دی ډول ئی زمونږ د هیواد چاری په مستقیم ډول پخپل لاس کی واخستی .

روسانو فکر وکړ چه افغانستان ئی په ډیره

آسانی سره په خپل اشتراکی جال کی ښکیل کړ خو د روسانو دغه حمله نه یوازی دا چه ورته ګټوره ثابته نشوه بلکه د افغانستان د مسلمانانو د قهر او غضب څپی ئی لاپسی توفانی کړی . که یو طرفته د روسانو د وحشت او بربریت بیرحمانه قتلونو ، بمباریو ، ترور او اختناق بازار تودیده ، نو ورسره جوخت د افغانستان د مؤمن ملت د جهاد پاکه او سپیڅلی روحیه پیا وړی کیده او په الله باندی د نصرت او توکل عقیده ئی پخیده او همدغه وجه وه چه روسان په دی و-پوهیدل چه د جنګ او وینو تویولو له لاری افغان مؤمن او مجاهد ملت نشی مرعوبولی او نه ورباندی خپله له وحشت نه ډکه اشتراکی او الحادی نظریه تطبیقولی شی ، نو د تذویر او فریب لاره ئی خپله کړه او د ملی روغی جوړی ، یو طرفه اوربند او د کمونیست رژیم د فرمایشی لوئی جرګی ماران ئی یو په بل پسی راوویستل چه ګوندی د افغانستان خلك به ورباندی تیر باسی ، خو زمونږ آګاه ملت دا هر څه یوازی د روس او روس پرستانو کیداو دسیسه او نیرنګ او فریب وګڼل .

او خپل مقدس جهاد ته ئی ادامه ورکړه او قربانی ـ ته او د همدغه جهاد او سپیڅلی مبارزی برکت ؤ چه د عصر د استعمار بت د افغانستان په خاوره کی دړی وړی شو او سری لښکری په شرم او رسوائی د زمریالیوله هیواد نه په تیښته مجبوری شوی .

د روسی لښکرو شکست یوازی دافغانستان د خلکو لپاره د ویاړاو افتخار خبره نه ده بلکه دا د ټولی اسلامی نړی افتخار او د مظلومو ولسونو لپاره آزادی او داستعماری ګنګیرونو د ماتیدو زیری دی .

اوس چه د کابل مړژواندی رژیم د ژوند او مرګ په کشمکش کی پروت دی او هره لحظه د خپل سقوط انتظار باسی او دګوډاګی نجیب سترګو ته د نیکولای چایسکو سرنوشت ترسترګو ستر ګوکیږی او خپل سرنوشت په همدغه آئینه کښی ګوری او روسان هم په دی پوهیږی چه د کابل روسی حوالدار به د مجاهدینو په لاس اعدامیږی ، په دی هلو ځلو بوخت دی چه دخپل مزدور رژیم وتونکی ساه را ټینګه کړی او د بی پناه مادی او نظامی مرستو او مدرنو وسلو په وسیله ئی تریوی مودی ژوندی وساتی . د دغه شوم هدف لپاره لیری ویشتونکی سکډ توغندی اونوره تباه کوونکی وسله د روسی مشاورینو په لاس د افغانستان د مجاهدینو په خلاف استعمالوی .

بل طرف ته د مجاهدینو حملی دومره پراخی شوی چه د هیواد زیاتره سیمی د ملحدو قواو له لاسه و تلی او د جهاد داورلمبی . د کابل ښار ته رسیدلی ، په ټولو ښارونو او نظامی

تأسیساتو باندی د مؤمنو مجاهدینو حملی ورځ په ورځ د کامیابی نوی زیری راوړی . بی شمیره نظامی او ملکی مامورین مجاهدینو ته تسلیمیږی او بی شمیره روسی وسله او عسکری مهمات ورته په ولجه ورځی داسی ورځ نشته چه د کابل د لوړی رتبی عسکری او ملکی مامورین دی له مجاهدینو سره خپل پیوستون اعلام نکړی . بل طرفته د رژیم په دستگاه کی د دوو رقیبو او دشمنو ډلگیو یعنی خلق او پرچم ترمنځ داقتدار د گټلو یوه سخته مقابله روانه ده او خبره تردی حده سخته شوی چه یو بل ته په سنگرونو کی ناست دی . همدغه وجه ده چه د ملحد رژیم د استبدادی ماڼی ستنی لرز وی او هره شیبه ورته د حتمی مرگ او سقوط جرس غږ وی .

خود کرملین بی مغزه لیډران د خپلو دغو ټولو ناکامو هلو ځلو سره سره بیا هم د کابل د منحوس او له منځه تلونکی رژیم سره په پراخه پیمانه نظامی او مادی مرستی کوی او بل طرفته ئی په بین المللی ساحه کی دا هلی ځلی پیل کړی تر څو په افغانستان کی داسی یو حکومت منځته راشی چه جهادی قوتونه او د خلق او پرچم مزدوری ډلی پکی په شریکه برخه واخلی او په دی ډول د یو مستحکم اسلامی حکومت د تأسیس پلان ، بریالیتوب ته د رسیدو په لومړی پړاو کی ناکام کړی . خو دافغانستان نومیالی مجاهدین لکه څنگه چه ئی وړاندی هم دغه ډول شیطانی طرحی په کلکه سره رد کړی داځل هم د ملل متحدد سرمنشی پلان د شرق او غرب شریکه دسیسه بولی او داسی ئی تعبیر وی چه ملگری ملتونه غواړی افغان مجاهدین او دهغو په ملیونو شهیدان د شرق او غرب ترمنځ دحسنه روابطو دایجاد د لاری قربانیان شی .

که دنړیوالی امنیت دعویداران رښتیا هم غواړی چه په افغانستان کښی سوله او امنیت رامنځته شی نو دمسالی د یواځنی حل لپاره باید په روسی دولت باندی دافشارو غور-
-زوی چه په کابل کی د خپل گوډاگی رژیم له حمایت نه لاس واخلی او د افغانستان خلکو ته حق ورکړی چه د خپل سرنوشت فیصله پخپله وکړی .

خود مسالی د حل د دغی یوازینی لاری د حمایت له پاره باید د افغانستان ټول جهادی قوتونه سره یو موټی شی او د ځان ځانی د غرور عینکی له سترگو لیری کړی . جهان ته په بینا سترگو و گوری او فکر وکړی چه څنگه د افغانستان د مؤمن ملت د اوږدی مودی د جهاد او حقه مبارزی څخه ناوړی استفادی کیږی ؟ .

مجاهدین درچندین ولایات افغانستان تلفات سنگینی به طرفداران نجیب رسانیده اند

گزارش ها حاکی است که شهر قلات بدست مجاهدین سقوط کرده و تمام ولایت زابل در تصرف مجاهدین قرار گرفته است ولایت مذکور از مدت طولانی بدین سوتحت محاصره مجاهدین بوده است . پایگاه هوائي کندز نیز تحت محاصره مجاهدین واقع شده است . مجاهدین دو طیاره جنگی میگ را در منطقه خوست سرنگون ساخته اند . اطلاعات آخیر حاکی است که مذاکرات بین مجاهدین افغان و افسران فرقه خوست در مورد شرایط تسلیم شدن فرقه مذکور به مجاهدین ادامه دا رد اژانس خبر رسانی فرانسه گزارش داد که نیروی های وفادار به جنرال تنی

در جلال آباد باسربازان رژیم نجیب به تبادل آتش پرداخته اند . بنا به گزارش نیروهای وفادار نجیب پس از زدو خورد شدید تسلیم شده اند .

نبردهای شدید در نزدیك بگرام چند روز قبل رخ داد نیروهای وفادار به جنرال شهنوار تنی تاسیسات نظامي تپه تاج بیك در دارالامان کابل راهدف گلوله باري توپ قرارداده اند که نیز وزارت دفاع در منطقه دارالامان واقع میباشد همچنان گزارش ها حاکی از وقوع زدو خوردها در منطقه میدان شهر ولایت وردگ و پل عالم در ولایت لوگر در جنوب کابل میباشد . طی یك جلسه خاص کابینه فدرال امروز در اسلام آباد تحولات اخیر او ضاع افغانستان را مورد بررسی قرار داده اند . ریاست جلسه را محترمه بینظیر بهتو صدر اعظم پاکستان به عهده داشت . درین جلسه گفته شد که تحولات جاری در افغانستان نتیجه کوشش های یك بخش اعظم نیروهای مسلح آن کشور برای سقوط دادن رژیم نجیب در کابل است در جلسه گفته شده که گروهای مختلف مجاهدین افغان همکاری همه جانبه شان را از نیروهای ضد رژیم نجیب به عمل آورده یك نطاق رسمی سپس به خبرنگاران گفت همکاري بین نیروهای مذکور نشان گر این حقیقت است که توافق عمومي در افغانستان وجود دارد که نجیب مانع راه حل سیاسي در مسئله میباشد یك نطاق وزارت خارج در اسلام آباد گفت هرگونه دخالت پاکستان رادر قیام جاری علیه رژیم کابل که روز سه شنبه آغاز یافته رد کرده است .

راغلي ليكونه او د هغو ځوابونه

د «چکدري» د کيپ د تنظيم طلبه سلفيه يو متعهد غړي او ديوي حلقي مسئول محترم ورور قمر الدين «مسلم يار» د «دعوت» پښتو مجلي ته له ميني او خلوص نه ډک يو ليك راليږلي او د سلام او مخلصانه احساساتو له څرگندولو وروسته ئي د عامو مسلمانانو خصوصاً د مهاجرو له ځينو علماؤ او مشرانو څخه يوه گيله کړي چه مونږ هغه د «دعوت» د پښتو مجلي د محترمو لوستونکو په حضور کښې تقديموو ، او هيله من يو چه دزړه په سترگوئي ووينې او قضاوت پري وکړي :

«محترمولو ستونکو ! زمونږ او ستاسې هجرت او جهاد د الله جل جلاله د رضاء او د اعلاء كلمة الله لپاره پيل شوی ؤ . تر هغه ځايه پوري چه زمونږ هجرت او جهاد زمونږ په مقاومت او ثبات پوري اړه در لوده ، د الله جل جلاله په مرسته او نصرت له برياليتوب سره يوځاى مخ په وړاندې روان دی ، خو په تأسف سره بايد پدې حقيقت باندي اعتراف وکړو چه د نړی وال استکبار مذمومي او مخذولي هلی ځلی جاری او د نورو دسيسو او توطيو په رامخته کولو سره هاند کوی چه زمونږ د اسلامي انقلاب د غوڅ برياليتوب مخه ونيسی .

هغه څه چه د نړی وال کفر د بقاء لپاره هغوی ته اميد بخښي . هغه زمونږ د اتلو مجاهدينو ترمنځ د نفاق او تفرقي د تباه کوونکی تخم شيندل دی چه د تخارد افسوسناکی او دردوُنکي پيښي عواقب دهغه نتيجه او ثمره ده . له بلي خوا كفري بړيځی ، دشئون اسلامي په نوم د کا ـ جی ـ بی د منحوسي اداري صادارات د يو شمير ناپوهو او ناخبرو مسلمانانو په ملگرتيا هاند کوی چه عام مسلمانان له اصل دين نه چه قرآن او حديث دی ، ناخبره او ليري وساتي . دوی هڅه

کوی چه په دین هغه پوه کسان او عالمان چه په عقیده او عمل کښې د سلفو صالحینو پیروان او دریښتینی اسلام غوښتونکی دی ، په ډول ډول نومو تورن او یاد کړی . دوی په کمپونو کښی د قرآنکریم او نبوی آحادیثو د تدریس او ترجمی مخنیوی کوی او د خپل دغه مذموم او منحوس هدف لپاره حتی مسجدونه او مدرسی چه د الله جل جلاله عبادت خانی او د الله جل جلاله د دین د زده کړی ځایونه دی ، سوزی او شهید وی ئی .

پداسی حال کښې چه په همدغو کیمپونو کښې په پټه او ښکاره د یهودیت او نصرانیت او شیعیت تحریکونه او دعوتونه چالان او په شور او زور کښې روان دی ، د هغوی د مخنیوی او تقبیح لپاره د دوی غوږونه کاڼه او سترگی ئی نابینادی .

په هغه ورځ چه د الله جل جلاله حضور نه ورشی .

زه نه پوهیږم چه دا خلك به خپل رب ته څه ځواب ووائی ؟ آیا دوی د الله جل جلاله له گرفت او نیونی څخه پدی بهانه خلاصیدلای شی چه مونږ نه وو خبر ؟ آیا هغه کسان چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قدردانو صحابه ؤ باندی تور او طعن وائی ، هغوی مسلمانان دی ؟ آیا هغوی چه د یهودیت او نصرانیت دعوت چلوی ؛ له څلورگونو مذاهبو څخه د کوم مذهب پیروان دی ؟

په هر صورت ، زه د هغو مسلمانانو په حضور کښې چه دا لیك لولی ، داعرض وړاندی کوم چه آیا هغه څوك چه دلیل او سندئی د الله جل جلاله کتاب او د جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم آحادیث وی ، هغوی ته د کافر او یاد نورو نسبت کول مشروع او جایز دی ؟

الله جل جلاله دې د اسلام معاندینو او بدبینانو ته پخپله جزاء ورکړی ، او هغو کسانو ته دی هدایت و فرمائی چه په ناپوهی کښې د دین د خدمت په نیت له دین سره خیانت کوی » .

دا دی د محترم ورور «مسلم یار» لیك مونشرته و سپاره ، نورنو محترم لوستونکی پوهیږی او قضاوت ئی . والسلام .

د دعوت د مجلی محترمو کارکونکو السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

اما بعد ! محترمو مونږ د ټولو تر مخه تاسو ته د دعوت د مجلی د کامیابیدو مبارکی وایو . د دعوت د مجلی او اخبار څخه مونږ ډیر مستفید یو . دا چه مونږ په دینی مدارسو کی سبقونه وایو نو مونږ د نړی د حالاتو او په تیره بیا د افغانستان د تازه حالاتو څخه بالکل

ناخبره یو . نو ستاسو د نشراتو په واسطه مونږ د افغانستان د تازه حالاتو او واقعاتو څخه خبریږو . چه مونږ ستاسو ډیر مشکور یو . هیله منديو چه په آینده کی هم مونږ ته خپل نشرات رالیږی چه د هغی په واسطه خپل ځان او نورو دوستانو ته فایده رسوو . ستاسو د لا بریالیتوب په هیله

(والسلام)

ستاسو ورور سعد الله اصف - کمپ ادیزی

ډیر محترم سعد الله «اصف» صاحب

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د مینی او محبت لیك دی راورسید .

د نیك نظر او خلوص نه دی یو جهان تشکر .

الله تعالی دی په خپلو نیکو مقاصدو کی همیشه بریالی او موفق لره ستاسو ادرس مونږ د نشراتو مدیریت ته ورکړ ، انشاءالله په آینده کی به تاسو ته د دعوت مجله ، اخبار او د جماعة نور نشرات پوره در رسیږی ، زمونږ هیله دا ده چه په آینده کی هم زمونږ سره خپله قلمی رابطه ټینګه وساتی او خپل نظریات ، پیشنهادات او انتقادات په همدغه پته را واستوی .

والسلام

(اداره)

محترم ورور نذیر احمد صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وروه ! ستاسو لیك او دوه قطعی اشعار مو راورسیدل ډیره زیاته مهربانی . ستاسو رالیږلی نظم مو د نشراتو مدیریت ته وسپاره ، که د چاپ وړ وه ، انشاءالله ضرور به ئی چاپ کړو . هیله ده چه په آینده کی هم زمونږ سره خپله قلمی رابطه قایم وساتی او خپل مطالب په همدغه ادرس را واستوی والسلام

ستاسو د لابریالیتوب په هیله ،

(اداره)

دا لیك زمونږ ورور نذیر احمد د ضلع دیر څخه په اردو ژبه رالیږلی چه مونږ ئی پښتو ترجمه محترمولو ستونکوته وړاندی کوو :

(اسلام دی بریالی او دا دعا ده زمونږ)

د دعوت د مجلی محترمو کارکونکو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته . محترمو ! د دعوت پښتو رسالی دوه شماری ماته راورسیدی بی حده ورته خوشحاله شوم . امید دی چه په آینده کی هم مونږ ته د دعوت رسالی او نور نشرات رالیږی .

د افغانستان او د مجاهدینو په ارتباط ما دوه نظمه تاسو ته درواستول هیله ده چه په خپله رساله کی ئی شامل کړی .

والسلام

نذیر احمد تیمر گره ضلع دیر

PROPERTY ACKU
5624

بسم الله الرحمن الرحيم ط

وعن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم، المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده والمهاجر، من هجر مانهى الله عنه (هذا لفظ البخاری) ومسلم قال انّ رجلا سأل النبی صلی الله علیه وسلم، ایّ المسلمین خیر؟ قال من سلم المسلمون من لسانه ویده.

(متفق علیه)

ترجمه: عبدالله (رض) بن عمرو نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: (پوره) مسلمان هغه دی چه دهغه دژبی او لاسونو نه مسلمان محفوظ او په امان وی او مهاجر هغه دی چه هغه ټول څیزونه ئ پریښی وی دکومو نه چه الله جلّ جلاله منع فرمایلی ده. (دا الفاظ د بخاری دی).

او په مسلم کښ دا الفاظ دی: چه یو سړی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو چه مسلمانانو کښ د ټولو نه ښه سړی کوم یو دی؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه سړی چه د هغه دژبی او لاسونو نه مسلمانان په امان وی.

(بخاری او مسلم)

بسم الله الرحمن الرحيم

لا اله الا الله محمد رسول الله

الله اكبر

ان هذا القرآن يهدى للتى هى اقوم

ان الارض لله يورثها من يشاء من عباده

الا له الخلق والامر

الا له الخلق والامر

١٣٨٤ هـ ق

جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

افغانستان